# تاریخ افغانستان

منشی احمد جان

پوریوُزم. دا شرط قبول شهٔ او کامران کابل ته لاړ. همایون دَ مُلتان په لاره په سنه ۱۵۴۰ کښې سنده ته لاړ.

دَ همایون بل ورور چه دهٔ نه یاغیَ شوَي وهٔ بیا دَ دهٔ تابع شوَي وهٔ او دَ ده دَ فوځ په کمان قنوج کښې شیرخان سره جنګیدلیَ وهٔ. هغه هم چه همایون سنده ته تهٔ نو ورسره بوتلاي وهٔ. لیکن په سنده کښې دَ همایون او دَ هندال په دي خبره ورانيَ راغيَ چه همایون دَ مور سلام ته ورغيَ نو هلته په یوه پیغله جنيَ بانډ مَین شهٔ چه هغه بیا ورستو دَ اکبر مور شوَه. هندال چه ورښَي هم دَ ورور په ملګیرتیا تینګ نهٔ وه همایوُن يُ پرېښود او دَ قندهار ګورنر قراچه خان سره يُ سازباز جوړ کړ. په اکتوبر سنه ۱۵۴۱ کښې يُ په ښهــر قبضه وکړه.

دَ هندال دا زورَورتوب دَ کامران خوښ نهٔ شهٔ. هغه چه کابل ته ورسید نو دَ خپل ورور همایون تابعداري يُ پرېښي وَه. او دَ پنجاب کميَ يُ دَ بدخشان په اختو پوره کړي وهٔ. دَ هندال قندهار ته راتلو بانډ چه خبر شهٔ نو کامران ورته مخه وکړه او شپږ میاشتې له دي ښهر نه چاپیره پروت وهٔ. آخر هندال په دي اوږدي قلابندَيُ تنګ شهٔ. ښهر يُ ورسته پرېښود. کامران دَ قندهار بادشاهي خپل ورور عسکري ته ورکړه او هندال يُ قید کړ کابل ته يُ ځان سره بوت. لیکن وروستو يُ دَ هغهٔ خطا معاف کړه او دَ جلال آباد ضلع يُ ورته جاګیر

ورکړ.

په دي مُده کښې همایون هم ناامیدَ شهٔ قندهار ته رااروان شهٔ. دهٔ دَ سنده په شګو کښې هرقسم سختیي وزغمله. دلته چه دَي دَ یو سردار کره میلمه وهٔ یو زوي يُ هم وشهٔ. دَ دي شګو دَ عمرَ چه تنګ شهٔ دا خیال يُ وکړ چه دَ خپل ورورکي ورور عسکري ته مدد وغوارم. لیکن عسکري دَ کامران په ډډه وهٔ او په هغه زمانه کښې چه همایون سنده ته تلي وهٔ دَ سنده سردارانو ته يُ چیتيُ لیکلي وي چه همایون ووژنئ. اوس چه هغهٔ دَ همایون دَ راتلو خبر واوریدي نو في الحال يُ فوځ رااوو سیت چه دَ مشر ورور په سر بانډ شپه شپه چپاوُ وکړي. همایون چه خبر شهٔ نو هغه وخت سور شهٔ او خپله ښځه او ځلویښت سړي يُ ځان سره واخستل هرات ته وتښتید. لیکن ماشوم زوي يُ په دي خیال چه دَ سفر تکلیف به تیر نهٔ کړي شي. تره ته يُ حواله کړ. عسکري دا هلک قندهار ته بوت او ښه ساتنه يُ کوله.

دَ کامران بادشاهي نن پرون په کابل کښې ښه مضبوطه شوي وَه. دَ هغه زماني دَ کابل بادشاهي دَ دي زماني دَ افغانستان دَ بادشاهيُ همره پلنه وَه.

شیرشاه له سنده نه پوري تر هغي پوري چه اوس دَ انګریزانو حد دَي قبضه وکړه. دَ قطب کوهستان نه هغه خوا هم کامران په بدخشان قابض وهٔ. لیکن بلخ او دَ هغي دَ قطب علاقه

لا ازبکیانو سره وَه. دَ کامران قوت په دې خبره ډیر زیات وهٔ
چه دَ هغهٔ مشر ورور ته خلقو فراري وِ. علاوه دا چه دَ
همایون نیازبین زوي هم دَ دهٔ په قبضه کښې وهٔ. دَ دې دَ
پاسَ دده وروڼه هم دَ دهٔ دَ حکم دَ لاندِ وُو. دې ټولو خبرو
ته زیاته دا وَه چه دَ بدخشان یاغي خلق يې هم وهلي وهٔ. او
دَ دغې صوبې حاکم يې قید کړی وهٔ.

لیکن دا داسې زمانه وَه چه دَ بادشاه دپاره ډیر ډیر صفتونه
پکار وُو. تش سپاهي توب کافي نهٔ وهٔ. دهٔ ته پکار وُو چه دَ دهٔ
تندي روڼ وَي او طبیعت يې مضبوط وَي او چه څه کار
وَي فی الحال يې کولیَ او مخکښې يې نظر لګولیَ. دا صفتونه دَ
بادشاه دَ ژوند دپاره داسې ضرور وُو لکه چه نن پرون ضرور
دي. کامران کښې دا صفتونه نهٔ وُو. دَي چه لکه دَ خپل کمال
په زمانه کښې په ډاکه وهٔ داسې هیچرې نهٔ وهٔ شوَي.

کامران چه خپله بادشاهي مضبوطه کړه او دَ بدخشان دویم
ژام نه وزګار شهٔ نو په عیش عشرت کښې ډوب شهٔ او دَ
ملک انتظام نه داسې ناخبره شهٔ چه دَ رعیت فریاد اوریدل يې
هم بند کړل. او که په دې يې بس کړې وَي نو هم خیر وهٔ
څکه چه په مشرقي ملک کښې دَ داسې عزت دار بادشاه په داسې
خبرو بیسې څ نهٔ شي وړي. خو هغه په خپلو افسرانو باندِ بدګمان
شهٔ او دَ دهٔ بدګمانۍ او کرکې دا نتیجه پیدا کړه چه درباریان ترِ
نه پټ پټ زړهٔ بدې شوُ او يو يُ هم په کښې دوست پاتې

نهٔ شهٔ او دَ یو هم بي دَ څه مطلب یا له ویري نه دَ خدمت بل څه وجه پاتې نهٔ شوَه-

چه کامران دَ ملک سنبالي ته شا کړه او په عیاشئ کښ ډوب شهٔ نو دا یو داسي غلط کار تر وشهٔ چه بیا ئې علاج نهٔ ورتهٔ-او دا غلطي په هغه وخت ورته معلومه شوي وې چه همایون دَ بادشاه طهماسپ دَ فوځ او دَ هغهٔ شهزاده سره په دهٔ راوخوت-

کامران ته پکار وُو چه له ټولو ته ورښې الکبر ئې حسان څخه ساتلې وَي لیکن دَي په دي کښ تېروَت او له داسي کولو نه ورښې همایون دَ بست په قلا باندِ قبضه وکړه- دا قلا دَ ارغنداب او دَ هلمند په غاړه باندِ پرته دَه-همایون چه دا واخسته نو دَ دي قلا سپاهیان هم ورسره ملګري شول او په قندهار راوختل-

ما دا بیان کړي دَي چه دَ قندهار ګورنر عسکري دَ کامران ورور وُه-خو دَ همایون هم ورور وُه- هغهٔ اګرکه دَ همایون سره ورښې ناکاره سلوک کړي وُه- لیکن دا ئې یقین وُه چه که زهٔ قندهار ورور ته پرېږدم نو ځما خطا به معاف کړي حشکه هغهٔ هم دغه‌سي وکړل-که دَ کامران سره ښهٔ فوځ وَي او په عسکري باندِ ئې اعتبار کړي وَي نو هغهٔ دَ همایون قلابندي زر تر زر ماتولې شوَه-لیکن په عیاشئ کښ هغهٔ نه جنګوته هېر وُو او داسي فوځ ئې پیدا نهٔ کړي شهٔ چه بي له بالائې

مدد نه دَ ایرانیانو مقابلې ته راغلیَ وَي.

بیا هم که دَ عسکرِي زړهٔ وَي نو دَ دښمن دَ منع کولو سامان هغهٔ سره وهٔ. په قلا کښې دومره فوځ وهٔ چه تر هغې خو يُ حمله کونکي منعَ کوليَ شول ترکومې چه دَ ښهر خلق دَ دښمن په مقابله بانډِ ولاړ وَي. لیکن دَ کامران کینې او بدگمانئ کار خراب کړ. دَ هغهٔ په هیڅا بانډِ اعتبار نهٔ وهٔ. هغه چه په کومه لار تهٔ دَ هغهٔ به کښې څه فایده نهٔ وَه. هغه چپ ناست وهٔ تماشه يُ کوله.

کامران که دي وخت کښې بهادرِي کړيَ وَي نو همایون دَ هغهٔ هیڅ نهٔ شو کولیَ. ځکه چه همایون دَ قندهار دَ دیوالونو خوا کښې ناست وهٔ دَ قلابندیانو فکر کښې وهٔ. هغه ښهٔ پوهیدهٔ چه دا څومره مشکل کار راته پیښ دَي. یو خو دا ځاي په قلا او په فوځ ښهٔ مضبوط دَي. بل عسکرِي دَ کامران په وفادارِيُ بانډِ ملا ترلي دَه. په داسي هنر يُ ښهر بچ کړيَ وهٔ که کامران لږ غونډِ هم سر خوځوليَ وَي نو دَ همایون واپس کیدل یقینِي وُو.

لیکن کامران خس وُ نهٔ کړ. او دي کښې هیڅ شک نشته چه دَ هغهٔ دي سُستيَ دَ همایون او دَ هغهٔ دَ صلاح کار بیرم خان په زړهٔ کښې دا خبره واچوله چه کابل ته له خپل طرف نه یوه جرګه ولیږُو. او کامران سره صُلحَ وکړُو. په دي خبره به دا کار وشِي چه دَ کامران لوي لوي معتبر نیکخواهان به ترِ نه

زړه بدې شي - د دې کار دپاره بیرم خان چه د همایون په افسرانو کښې مشهور او ډیر معتبر وه مقرر شه.

دې د بدخشان وه - په بلخ کښې ئې تعلیم کړې وه - د ۱۲ کالو همایون سره بهرتي شوې وه - ډیرو ځایونو کښې هغه تشه بهادري نه وه ښکاره کړي بلکه وفاداري ئې هم ښیلي وه - هغه همایون سره ایران ته راغلې وه او هلته د بادشاه په زړه داسي ننوتي وه چه هغه ورته د ”خان“ خطاب ورکړې وه - بیرام نن پرون د خپل سرکار سره کابل او هندوستان اخستو دپاره راغلې وه - بیرام اگرکه تر دې وخت پورې ټول د عقل کارونه کړي وو لیکن دا ځل ئې چه کومه عقلمندي د دې جرګې په کار کښې وکړه ها ئې په ټولو زیاته وه وجه دا وه چه ده په کابل کښې قدم کینبود - نو د کامران په ده باندې شک پیدا شه او د عزت ورکولو په بهانه ئې یو څو معتبر جاسوسان د بیرام په اردل کښې مقرر کړل - او دا احتیاط ئې وکړ نو کامران بالکل بیغم شه او څه پرواه ئې و نه کړه - چه دې د کوم کوم افسر سره ملاقات کوي او ورسره ساز باز ساتي - سره د دې جاسوسانو او د کامران د مخې بیرام خان شهزاده اکبر او شهزاده هندال سره ملاقات وکړ - او هم د بادشاه د ترپورانو یادګار - ناصر او الغ سره ئې خبري وکړي - هغه د بدخشان معزول حاکمان شهزاده سلیمان او د هغه زامن هم ولیدل - او شیبي جمعي هلته وه - بیا کابل نه په دې

يقين راواپس شهٔ چه دَ كابل دَ ټولو افسرانو زړهٔ دَ دهٔ بادشاه يعني همايون سره وهٔ ټنش دومره خبره وَه كه څه لوي كار لكه دَ قندهار فتح يا نور څه وشي نو ټول افسران به په جار دَ همايون په پړه شي.

په دي مُده كښې هم عسكري دَ كامران په ډډه ولاړ وهٔ- هغهٔ دَ باهر خلق په هر شان منع كړي وهٔ او دَ هغهٔ دا يقين وهٔ كه اوس كامران دلته راځي نو همايون به خواه مخواه واپس شي- ليكن كامران كابل ته هله راووت چه بيرام خان هلته دَ صلاح مصلحت كولو ته پس راغلي وهٔ- كه چري دَ بيرام دَ كابل تلو نه وروستو كامران دلته راغلي وَي نو مراد به يَي تر سره شوَي وهٔ - ليكن اوس دَ بيرام په لسون دَ دلبارايانو يو ټولي تر اوريدلي وهٔ او دَ هغوي سره دَ همايون له طرف نه دَ معافيَ نه هم دَ زياتو رعايتونو او دَ ښيګړو وعدي كړي شوي وي.

دي ټولي دَ كامران داسي په جار مخالفت وكړ چه دَي له كابل نه راوتيَ نهٔ وهٔ چه واپس شهٔ- باغي خلق تر زر زر جُدا كيدل او دَ هغو سرداران چه په كښې دَ كامران تربُور الغ بيګ هم وهٔ دَ همايون كيمپ ته راغلل او دَ ډيرو افسرانو له طرف نه يَي دَ خيرخواهيَ كاغذونه راوړل- دَ كامران زړو كسو سردارانو هم هغه وخت به جار همايون خپل بادشاه كړ-

آخر دا نتیجه شوه چه عسکري پنځه میاشتي پله پسي په قلابندۍ کښې د خوراک سامان خلاص کړ او په ناچارۍ ئې ښهر همایون ته حواله کړ. ده د کامران سره وفاداري وکړه. خو دا وفاداري ئې په دي وجه وه چه له همایون نه ئې څه د نیکۍ طمع نه کېده. د کامران وفاداري د قندهار فتح کېدو نه پس د عسکري پکار نه شوه. ځکه چه ښهر فتح شه نو د همایون په حکم ده ته هغه خیلي چیټۍ وښودلۍ شوي کومي چه ده د هندوستان سردارانو ته د همایون د وژلو دپاره لیږلي وي.

د قندهار بایللو نه پس د کامران د سر په سوري کولو ځاي هم پاتي نه شه. دې ئې په دي خبره هم ناچاره کړ چه د بدخشان ګورنر چه ده قید کړي راوستي وه پرېږدي. د ده ترپوران یادګار او ناصر هم وتښتېدل. د ټولو نه ورستو د کامران ورور هندال (چه تر دي وخت پوري ئې ورسره داسي سلوک کړي وه لکه د ډنمارک شهزاده جارج د جیمز ثاني سره کړي وه) چه د کامران ملګري ئې په تیښته ولیدل نو پخپله هم تري جدا شه او ځان ئې همایون ته حواله کړ او د بیرام هنر هغه وخت پوره شه.

بیا هم د کامران سره ډېر څه وو د کډۍ په ځاي د ده بادشاهي وه. غزني ئې په قبضه کښې وه او حریف ته لا ډېري خوارۍ پرتي وي ځکه چه هغه په پردو سپاهیانو کته

کړي وه او دي بېګانه خلقو ته پرون الغاو تلغاو جوړ کړي وه. همايون د قندهار د لوټ مال هغو ته ورکړ چه دوي ساړه شي خو هغوي په دي هم خوشحال نهٔ شول. او په قندهار باندي ئې قبضه ونښتله او خپل واک اختيار ئې په کښې چلاوهٔ. لنډه دا چه د خپلو ملګرو له طرف نه د همايون د زړهٔ عونډي پسه ځاي نهٔ وهٔ. هغهٔ د ايرانيانو په مدد قندهار اخستي وهٔ. او اوس ايرانيانو هغه له ښهر نه ويستهٔ چه د ښهر له ديوالونو سنه لري خپل تنبوان لګ کړي. ليکن همايون سره نهٔ آسونه وو نهٔ زر نهٔ سامان. د دهٔ ملګري له ۵۰۰۰ نه زيات نهٔ وو. دا ټولي خبري د کامران دپاره فايده‌مندي وي.

د کامران نه چه کوم سرداران راتښتېدلي وو د هغو هم خيال بدل شهٔ او بيا خپل ځواني سردار ته ورغلل. د همايون صلاح کاران هيبت واخستل او واري ئې خطا شهٔ. ځلور واړه طرف ته نااميدي وه. نهٔ دا کيدي شوه چه وړاندي شي او دښمن لاندي کړي او نهٔ دا کيدي شوه چه کومه زمکه ئې اخستي وه هم په هغي پريوزي. ځکه چه ژمي نږدي وهٔ او د دي علاقي ټوله غله خلاصه شوي وه.

ليکن په دي بد حال کښې آخر د بابر د زوي بخت ويښ شهٔ چه کوم ايراني فوځ په هرات پروت وهٔ هغوي د هندوستان په سوداګرو باندي آسونه خرڅ کړي وو همايون دا مسافر ولوټل ولي چه د آسونو بيه کولو دپاره ورسره

روپۍ نهٔ وې. بیا ئې هم سوداګرو سره دومره انصاف وکړ
چه هڅوئ ته ئې په دې وعده بانـدِ یوه پروانه ولیکله چـه
هر کله امن امان شِي نو دَ دې قیمتونه به درکړې شِي. او
دا وعده همایوُن بیا پوُره هم کړه.

دَ همایوُن آسونه خو وشول لیکن اوس دا سختي وَه چه
دوئ ته ګیاه له کومه راوړې دَ دې خبرې څه علاج نـهٔ وهٔ
لیکن قسمت دا هم آسانه کړه.

دَ قندهار ښهر بانـدِ چه ایراني شهزاده محمد مـراد
حکومت راخستي وهٔ هغه ناڅاپه مړ شهٔ. دَي دَ ایران دَ بادشاه
زوي وهٔ او هم دَ دهٔ په وجه همایوُن په قندهار باسـنِ له
ختو نه تر اوسَ منعَ وهٔ لیکن اوس چه هغه مړ شهٔ نو دهٔ
دا موقعه عبث نهٔ کړه او یو څو یاران ئې په څه بهانه ښهر ته
ننیستل او بیا ئې له یو تود جنګ نه پس ښهر له ایرانیانو نه
واخست.

همایوُن ته په دې شان دَ ښېو اینبودو ځاي په ګوتو ورغئ
او دهٔ داسي چل راواخست کوم چه له دهٔ نه وړنبې کامران ته
پکار وُو یعني په مخکښ لار دَ قلات غلزئ او دَ غزني لار خو
دَ کامران سرو بنده کړې وَه څکه په هغه لار لار نهٔ شهٔ
ولي په هغه لار کومه چه دَ هلمند په غاړه غاړه دَ کوه بابا
ترچیني پوري تلي دَه- دا سختي وَه چه دَ ژِمي په وجه سپر
تیریدل ګران وُو- لیکن هغهٔ دَ دې پروا وُ نهٔ کړه او پـه

سیخښتي سره کابل ته ورسید.

کامران ویښ شوي وه د ښهر مورچې ي مضبوطي کړي دي او اوس ي ۱۸-۲۰ زر فوځ اخستي وه د مشر ورور ۵۰۰۰ فوځ تباه کولو دپاره مخکښ ته. هغه څه قدر فوځ د خیمار د څوکیداري دپاره لیږلي وه لیکن دا خو کافي نه شه. یا دَ دي افسران نالایق وُو څکه چه همایون یواځي دا دره له دي فوځ نه پاکه نه کړه. بلکه د خواجه پښته کندي نه هم په حتلار تیر شه.

د دي دري په بایللو کامران ته ډیر نقصان ورسید. د ده ډلو ډلو سردارانو د ده کیمپ پرېښود او دَي ورته چپ ولاړ وه کتل ي. دا وخت ي هم که د حملي زړه کړي وَي نو د ده د کتي وخت وه لیکن داسي ي وُ نه کړل. بدګماني پر باندِ بیا غلبه شوه. له هرځا نه ي ویسا پاڅیده څکه یو حثو کس همایون ته ورغلل چه د صلح د شرطونو فیصله وکړي. لیکن د همایون شک پیدا شه چه کامران مهلت لټوي. څکه ي د ده دا خبره پري نه ښوه او في الحال ي ۲۰۰۰ نیزه باز د کامران په کیمپ راوغورزول. د همایون دا زور ورتوب چه کامران ولید نو په شابیرته د کابل قلا ته وتښتید او چه شپه شوه نو خپله ښځه او ځامن ي واخستل غزني ته وتښتید او له هغه ځاي نه په هزاره ستنده نه لاړ. او د څه مُدي دپاره تر بادشاهي لاړه.

لیکن دَ څه مُدې دپاره. دا رښتیا دي چه دَ کابل ټوله بادشاهي دَ همایُون په لاس وَه. دَ دهٔ او دَ دهٔ دَ ورور په حال کښې دَ ځمکي او دَ آسمان فرق وهٔ. دَ دهٔ نن برون دَ بادشاهۍ تاج په سر وهٔ او کامران په سنده کښې دَ سیو کډوالهٔ په شان ساعت تیروهٔ لیکن دَ هغهٔ همت هم هغه سې په ځاي وهٔ او په سنده کښې ناست وخت ته ي کتل. لیکن دَ ورپښي خلق په شان په ویره کښې نَه بلکه په امید کښې ي سویه غلي کړي وَه.

دَ قطب او سهیل سنده شاه حسین ارغون دَ دهٔ ډیر خاطر مدار وکړ دا حاکم ډیر عقلمند وهٔ او مخکښې ي ښهٔ نظر لګیدهٔ. دَ دهٔ لُور ورپښي کامران ته کوژدن شوي وَه. دا ځل ي پلار نکاح هم وتړله. دا دَ دهٔ په عمر کښې یو دَ عقل کار وهٔ دا جینۍ یوه اشرافه دَ لوي دماغ خاوندَه او وفاداره ښځه وَه. دَ دي نوم چوچک بیګم وهٔ.

کوم وخت ته چه کامران کتل هغه له ښیلي ښېټي نه ورپښي راغۍ. همایُون چه دَ کابل بادشاه شهٔ نو بدخشان ته لاړ دَ دي دپاره چه هغه صوبه واخلي به کومه چه دَ دهٔ تربور سلیمان دَ دهٔ او دَ کامران دَ جنګ په ورځو کښې قبضه کړي وَه. سلیمان ماتي وکړه او بیا همایُون په بدخشان او کیرچاپیر علاقو باندِ ځیل حکومت دَ مضبوطولو دپاره ۳-۴ میاشتي هم هغلته وهٔ. او هم دَ دي مطلب دپاره دَ کوه بابا

په قطب ظفرقلا کښې د ژمي تیرولو نیت وکړ. هغه ظفرقلا ته ته چه یوې سختې ناجوړتیا راګیر کړ او څلور ورځې ئې داسې حال وه چه د خلقو تر طمع قطع شوې وه په پنځمه ورځ ئې څه فرق وشه.

د کامران دپاره دا ښه وخت وه. همایون له کابل نه ډیر لرې ناجوړه پروت وه او د جوړیدو ئې څه طمع نه وه. له دې نه زیات ښه بل کوم وخت وه د خپل سخر په مدد ئې ۱۰۰۰ چونړ کړي سواره جمع کړل او خان سره ئې غزني ته رااوان کړل. په لاره هغه یو څو پښتنو سوداګرو نه آسونه هم ونیول او بیا به ئې سورو دوه دونړه منزل کاوه نو له نیمې نه ورښې غزني ته راورسیده. کامران یو څو معتبر افسران ورښې ولیږل چه په غزني کښې د ده د پرې خلق خبر کړي په دې شان د غزني حاکم خبر هم نه شه او کامران په ښهر قبضه وکړه د ښهر حاکم ئې مړ کړ او یو خپل یار ئې پر حاکم مقرر کړ او بیا ئې ښیه ؤ نه نیوه کابل ته ئې مخه کړه. هلته د ده راتلل د چا په خواخاطر کښې هم نه ؤو. ده شپه په شپه پر چپاؤ وکړ کورستر ئې ؤوازه او قلا ئې واخسته د کابل په قلا کښې هغه د وردر خپلوانه هم ؤموندل یو په کښې شهزاده اکبر وه.

لنډه دا چه کامران یو ځل بیا د کابل مالک شه او دا خبر همایون ته هغه وخت ورسیده چه دې له ناجوړتیا نه

پاڅېدلې وه. دومره طاقت يې شوی وه چه په آس به يې
گشت کولی شه. دا يو داسي درد وه چه د ده په خواطر
کښې هم نه وه. پواځې د همايون آل عيال په کابل کښې نه
وه بلکه د هغه افسرانو آل عيال هم وه چه کامران يې پرېښي
وه او ده ته راغلي وو. د بال بچ محبت لږ ډير په هرقام او
ټبر کښې وي خاص د مشرق په خلقو کښې خو ډير څرگند
ښکاري. همايون ته دا معلومه شوه چه دا يو داسي وخت دی
چه خپل ټول قوت او همت او عقل تکول پکار دي او په
خپلو ملگرو باندې له ورښي نه زيات دباؤ او اثر غورزول
پکار دي.

په همايون کښې له کامران نه زياتي دا خبره وه چه خلق
يې خان ته راارولی شول او خپل قدر يې زياتولی شه.
په دې زمانه کښې به داسي سړي کم وي چه د ده په شان
رښتني او ياخه دوستان به لري. دا يوه خوبي وه چه په دې
وخت کښې د ده پکار شوه. څکه چه پخپله خو ډير سُست او
کم همت وه. يوه دا خوبي هم په کښې وه چه د قابلو
مصلحتيانو خبره به يې هم منله.

د دې مصلحتيانو فکر د ده کار جوړ کړ سره د دې چه
سخته ېخني وه او د هندوکش ډېرې واورو کښې ېټي لارو
کښې پرتي وي هغه يو دم د کابل د تلو نيت وکړ. هغه مرزا
سليمان سره په دې شرط صُلح وکړه چه د بدخشان حکومت

دِ کوِي څو همایون دِ خپل بادشاه منيِ - او بیا ظفرقلا بباندِ
کابل ته روان شهٔ. په طالیقان کښې چه دَ فرخار دَ سیند
په غاړهِ باندِ دي دَ واورو او دَ باران په وجه څو ورځي ښپه
نیولیَ شهٔ. چه جم جکړ تیر شهٔ نو بیا یي منع منایيُ تر کندوز
ښهرَ پورې لاړ لیکن له بدقسمتيُ نه دلته ډیرو افسرانو خاص
هغو چه دَ چا ښځي په کابل کښې وي - په دي خیال دَي
پرېښو چه اوس دَ کامران بادشاهي معلومېږي. همایون دلته
یو څو ورځي فوځ تازهِ دَم کړ او دَ هغو زړونه يُ غټ کړل
بیا يُ دَ آرمیښت دپارهِ خپل ټول زور په مخکښې تلو کښې
ولګاوهٔ او دوه خیلي دوه پړدَيُ دويُ درو ته وُرسیدل.
دَ لارې دَ تنګسیا څه حد نهٔ وهٔ دَ واورو انبارونو لار بنده
کړې وَه. راړَویو به واوره کښته او لار به يُ رابیستله.
سرو، آسونو او اوښانو هیڅا چرې داسې تکلیف نهٔ وهٔ لیدلیَ
لیکن آخر دَ قره‌کوه درې او کندې يُ واخستې او دَ هندو
کش قطب ډډې کښې شیغان ته ورسیدل چه دې ځای نه
په کابل دَ ورختو ښه موقعه وَه.

اوس دا کتل پکار بِي چه کامران په دومرهِ مُرکه کښې
څهٔ کارونه وکړل. دَ فوځ په باب کښې څو کامران هر څه
کړِي وُو. فوځ يُ جمع کړَي وهٔ. دَري يُ مُحکمي کړِي وي
او دَ ملک معتبر خلق يُ په کوشش سرهِ ځان ته اړدلَي وهٔ.
دهٔ دوه کارونه داخل کړِي وُو اول سزاکاني دویم طمع

ورننبي خو په هغه ځای چه دهٔ سره يې دهوکه کړې وه دهٔ رحم وُ نهٔ کړ. په هر شان چه کېدل هغوئ يې ووژل. څني ډېر د دبدبې افسران دهٔ سره شول چه په هغو کښې ټولو نه زيات قابل شيرعلي وهٔ. چه له معتبرئ نه علاوه د فوځ په کار ډېر ښهٔ پوهېدهٔ.

د همايون او د کابل ترمنځ اوس دا دا ځايونه پراتهٔ وُو. د آبدره ضحاک کندهٔ، چاردهٔ، غوربند، چاريکار، او استيلاف. د همايون د منع کولو دپاره کامران د شيرعلي لاندې يو فوځ ولېږهٔ. له بدقسمتئ نه دا فوځ ډېر لږ وهٔ. څکه له دغې کندي نه په ناچارئ واپس شهٔ. ليکن چه هغه يو قابل افسر وهٔ او د ملک له حال نه خبر وهٔ څکه يې يوه کړه وږه لار باندې د دري د قطب دروازه باندې راغئ او له هغې نه تير شهٔ ډېر په زور يې د همايون په فوځ له ورستو نه حمله وکړه. ليکن سره د دې همايون تر چاريکار راورسيد. دلته د دهٔ ډېر بد حال وهٔ. د دهٔ د ملګرو وار پار خطا وهٔ او ډېر ملګري يې چه يو په کښې د دهٔ ترور هم وهٔ کابل ته وتښتېدل همايون په دې وخت کښې يوه جرګه وکړه. ډېر بحثونه په کښې وشول. دا فيصله وشوه چه في الحال په کابل ورختل مناسب نهٔ دي بلکه د غرهٔ په لمنه کښې چرته په بنيرازه ځاي باندې کيمپ لګول پکار دي په دې باندې اَمنا کېدونکي وه چه د يو معتبر دوست په

درخواست دا خبره نامنظوره شوه هغهٔ همایون پوه کړ چه دلته دَ کیمپ لګولو نه به صبا دَ فوځ په زړهٔ کښ دا خیال پیدا شي چه بادشاه جوړ کابل ېربږدي او قندهار ته ځي. ځکه چه قندهار لا دَ همایون سره وهٔ او بیرام پرِ بانډِ حاکم وهٔ.

کامران په ښهر کښ دننه په طمعَ ناست وهٔ. خدای خبر چه په دهٔ کښ دا سُستي له کومه راغلي وَه. که څړي دهٔ دا وخت بهادرِي کړَي وَي نو ډیرِ دَ عقل کار به ئ کړَي وهٔ او خپل لوي فوځ به ئ په کامیابئ سره په دښمن وراچولي وهٔ لیکن دهٔ دَ خپل ورور تماشه کوله، حیه دَ همایون فوځ له استیلاف نه راکوز شهٔ او افغان کلي ته راورسید چه دَ کابل په علاقه کښ دَي. نو کامران شیرافکن نوم جرنیل چه دَ دهٔ یو لوي جرنیل وهٔ دَ خپل چونړ کړي فوځ سره دَ ورور مقابلي دپاره ولیږهٔ ډیر خوني جنګ وشهٔ اول اول خو دَ کامران فوځ په کټه کښ وهٔ لیکن په یو نازک وخت کښ دَ همایون فوځ دَ شیرافکن دَ فوځ په اړخونو داسي ناڅاپه حمله وکړه چه دَ ټول فوځ وار خطا شهٔ. شیرافکن په دي جنګ کښ ډیره بهادرِي ښکاره کړه او په جنګ کښ قید شهٔ او وُوژلئ شه. همایون په مخکښ لاړ او دَ ښهر باهرحدونه ئ قبضه کښ کړل. او په یو اوچت غرَ ئ خپله توپخانه مخامخ کړه.

کامران ښهر پچ کړ- مورچې جوړې وې- سپاهیان پوره
ډو او کامران ته ښه معلومه وه چه توره ې په سر د
پاسه پرقیږي- په یو څو جګړو کښې خوې برې وکړ خو
په یو څو کښې ې بایلات وکړ- بیا هم باهرنو خلقو ستړ
نه څه فایده حاصله نه کړه- چه قلابندي اوږده شوه نو
په خوراک کښې کمي راغي- دواړه طرف ته د ظلم بازار تود وه
څکه چه همایون یو څو قیدیان د دښمن د وړاندې وډژل-
نو کامران هم د دي بدل واخست او د همایون ملګرو
سره ې داسي بیرحمي وکړه چه په قلم کښې ې د بیان طاقت
نشته- وایي چه ده خپل وړوکي وراره د همایون نیازبین
زوي اکبر د قلا په هغه سنډه کښیناوه کوم ځاي چه د
توپو ګولۍ ډیري پریوتي-

آخر د کامران یقین راغي چه نور جنګ کول عبث
دي- په ښهر کښې د خوراک سامان خلاص شوي وه او
قلابندي زوروره وه- په ناعلاجي هغه د عاجزي چیتیاني
ورور ته ولیږلي او معافي ې وغوښته او آینده دپاره په
وفاداري سره د خدمتونو کولو لوظ قول ې ورکړ-

د همایون بالکل دا خوښه وه چه ورور ته پوره پوره
معافي ورکړي- لیکن د هغه مصلحتیان ښه پوهیدل که
چري د کامران غونډ مطلبي سري ګناه معاف شوه او د
همایون رعیت شه نو څه پیاتونه به وکړي څکه هغوي

پټ کامران خبر کړ چه خبردار د ورور په خبره اعتبار و نه کړي - دی به تا خامخا ووژني. ستا دپاره ښه دا چه پټ په پټه ښېي وباسي وتښتي - موږ د دي خبري ذمه اخلو چه ته به صحیح سلامت له دي ځاي ووزي - د مصلحتیانو چل وچلېده او کامران چه له خپل ورور ناامیده شه.
نو د ۲۷ اپریل ۱۵۴۷ سنه په تکه توره شپه کښ د قلا دیوال یې مات کړ په کنډ پوریوت او پیاده غزنو ته ووت.

د همایون له دي هغه پسي هله وشوه ځني وایي چه د ده هندال ورور او ځني وایي چه یو مغل سردار حاجي محمد چه له ورکوالي نه یې کامران پېژانده هغه پسي روان شه.

ټولو تاریخونو کښ راوړي دي چه دا هغه مغرور بادشاه چه د کابل په غزنو حوت ونیوه خو راي نه وست او پري یې ښود.

د ټولو نه عجیبه دا روایت دي. وایي چه حاجي محمد کامران ته ورسېد او د هغه د نیولو نیت یې وکړ نو کامران ورته په اوچت آواز ووې چه لاړ شه او خپل پلار مته دا بدایي وکړه چه کامران ما وژلي دي" د ملامتیا په دي خبره د حاجي محمد په بهادر زړه باندي چه جري د بابر ډېرو خاصو کښ وه داسي تاثیر وشه چه وریږدېده

او شابیرته کور ته راغئ.

یو ځل بیا دَ دواړو وروڼو حال یو بل ته سپه عکس شهٔ. همایون دَ کابل باد شاه وهٔ او کامران سر وهلیَ بَروهلي فراري گرزیدهٔ. همایون څو اول دا ښهر چه دهٔ ته نیغ شوَي وهٔ یو شواروز لوټ کړ. او دَ خیل مغرور وررور یو څو معتبرو ملګرو ته يې سزاګاني ورکړي او بیا په بادشاهي کارونو کښې لګیا شهٔ

کامران دَ کابل غزونو کښې تهٔ تهٔ دَ استیلاف اطرافو ته کوم ځاي يې چه ملګرو ته په ښه کړي دهٔ ورسید. لیکن هلته یو هم ښکاره نهٔ شهٔ او یواځي دَ یو ملګري سره په مخه لاړ. په لاره کښې دَ سنجد کندي ته نژدي یو څو هزاره پېښتو ونیو. یو هزاره دَي وپېژاندهٔ او دَ ضحاک په لار يې بامیان تهٔ ورساوهٔ دلته کامران سره ۱۵۰ سوارهٔ جمع شول چه په هغو کښې شیرعلي او مرزابیک دَ دهٔ ښهٔ یاران وُو دَ کامران یقین وهٔ چه په دي لر غونډ ټولي باندِ زهٔ ډیر څه کولیَ شم ځکه هغهٔ په کوري ښهر باندِ چه له کندوز نه عن سهیل ته دَ بدخشان په سرک پروت دَي حمله وکړه. دَ دي ځاي ګورنر چه هغهٔ سره یو زر سوارهٔ او دري سوه پیاده وُو دَي يې ښهر ته پريَ نهٔ ښود. لیکن کامران په څه چل دَي له ښهر نه باهر راوُوِیست.

نو بیا يې په ډيري بهادرۍ ورسره جنګ وکړ او په ښهر يې تر
نه قبضه وکړه.

دلته ورته هرقسم سامان په لاس راغئ. هغهٔ دا ښهر
شیرعلي ته پرېښو او پخپله يې فوځ واخست چه له ورښي نه
ډير زيات شوي وهٔ بدخشان ته روان شهٔ. دي دپاره چه
دَ هغه ځايُ ګورنر مرزا سليمان خان ته راوارِوي. دي ځاي
نه دَي نااميدَ شهٔ. ناعلاجَ بلخ ته يې مخه وکړه. چه کښي دَ دويُ
دَ ټبر په پيرو دښمنان اُزبکيان به خواه مخواه دَ دهٔ مدد
وکړي.

همدغه خبره وه چه دَ همايون په زړهٔ کښ يې ترهه واچوله
ليکن په دي دَي ډير وارخطا نهٔ شهٔ. دا خيال يې وکړ چه دَ
کامران دَ دي خبرو علاج سمدستي کيدَي شي. لکه چه
هغهٔ يو خپل معتبر سردار قراچه خان ته څه فوځ ورکړ او
کامران پسي يې ولیږهٔ.

قراچه خان ډير په هوښيارتيا ګوري ته لاړ او له ښهر
نه چاپيره شهٔ. شيرعلي ډيره مُده په لويه بهادرۍ دَ هغهٔ
مقابله وکړه. ليکن چه هغهٔ دَ دښمن فوځ غالب وليد
نو في الحال يې ښهر خالي کړ او خپل ټولې يې واخست او
بلخ ته لاړ.

دَ ګوري په قلابندۍ کښ شيرعليخان کامران ته ډيره
فايده ورسوله څکه چه په دي مُده کښ هغهٔ دَ اُزبکو سردار

سره په ښهٔ شان ملاقات وکړ- او دَ خان په ډډه ئ کړ- او یو لوي فوځ ئ دَ همایون برخلاف هغهٔ ته ورکړ- کامران دا فوځ راواخست کوړي ته ئ مخه کړه- او دا ښهر ئ واخست- بیا کندوز ته وړاندِ شهٔ باغلان ئ لاندِ کړ او په بدخشان ئ دَ حملي کولو دباؤ وغورزوهٔ-

په کندوز باندِ نن پرون هندال شهزاده حکم کاوهٔ- چه دَ اُزبکو په راتلو خبر شهٔ نو قراچه‌خان سره ئ خبري وکړي او دلته له بدخشان نه څه فوځ دَ مرزا سلیمان دَ لاندِ هم راغئ یوځاي شهٔ لیکن دا دري‌واړه فوځونه هم دَ کامران دَ فوځونو په مخکښ هیڅ نهٔ وُو- ناعلاجَ هندال واپس شهٔ- کندوز ته راغئ- قراچه‌خان دَ کومک دَ راوستو دپاره کابل ته لاړ او مرزا سلیمان دَ بدخشان دَ لارو دَ حفاظت دپاره خپل ملک ته لاړ-

دا دویم ځل وهٔ چه همایون ئ له خوب نه راوېښ کړ او دا پېره دَي ښهٔ وِېښ شهٔ- دا هېتناک خبر چه راغئ نو دهٔ فوځ راجمع کړ او قراچه‌خان لا نهٔ وهٔ رارسیدلئ چه دَي قطب ته رااوان شهٔ- په لاره غوربند کښ ئ قراچه‌خان ولید- دَ هغهٔ ملګرِي داسي په بد حال وُو چه دَ هغوئ کابل ته راتلل او بیا سامان تیارول ډېر ضروري وُو- همایون خپل لښکر واخست دَ کوهستان په ضلع کښ تر کلبهار پوري لاړ او څو پوري چه قراچه واپس نهٔ وهٔ راغلئ دي علاقه کښ په

ښکار مشغول وه. قراچه چه له کابل نه واپس راغئ نو موسم
داسي بدل شوي وه چه د تولو درو لاري بندي وي.
همایون پرِ بانډِ د تیریدو وس وکړ خو کار ئې نه شهٔ ناچاره
کابل ته راغئ. د هغه په راتلو کامران ته په بدخشان بانډِ د حملي
ښه موقعه په لاس ورغله.

اوس ګویا کښی د کامران نصیب په تولو وه. مرزا
سلیمان ډیر د ده مدافعت وکړ خو آخر تر په عزونو کښی پټ
شهٔ. دا کار چه وشهٔ نو ډیر نمکخواران له کابل نه راغلل کامران
سره شول. یو بل کار هم داسي وشهٔ چه د هغي په وجه د
ده په فوخ کښی د زیاتوالي امید وه. چه همایون کابل نه راغئ
نو د ده یو وزیر د قراچه خان څه بیعزتي عوندِ وکړه. په دي بانډِ
قراچه خان د هغهٔ د ویستلو بادشاه نه درخواست وکړ. همایون دا
عرض منظور نهٔ کړ نو قراچه خان په دي خفه شهٔ. که همایون هسي
په دروغه ښه کړي وَي نو هم د قراچه غصه به سره شوي وَه
لیکن هغه پخپله دا اور بل کړ. بیا هم که هغهٔ اوس ګناهګار
وزیر ویستلي وَي نو ډیره به ښه وَه لیکن هغه په یوه داسي
لار لاړ چه د هغهٔ د شان سره لایقه نهٔ وَه. هغهٔ قراچه خان
ته وُوِ چه بیا به چرته داسي وخت راشي د دي خبري نپوس
به تر وکړو. او اوس ئې سمدستي نهٔ شو موقوفولئ. په دي
بانډِ قراچه خان او د دلبار نورو عزتمند و خلقو سره د دري زر
آزموده کار فوخ کابل پریښو او د خواجه رواج په ګهورسال بانډِ

يُ قبضه وکړه او دَ نوَر پرېواتهٔ هندوکش دَرو ته يُ مخنه وکړه-

اګر که دا واقعه ناځاپه پيښه شوه خو همايُون پرِ وارخطا نهٔ شهٔ- هغهٔ زر په ډېر کوشش سره فوځ جمع کړ- او په ياغيانو پسي تر قراباغ پوري راغئ- ليکن شيبه وه قراچه ترِ وراند لاړ دَ غوربند په پُل تير شهٔ او دا پل يُ وشلاوهٔ همايُون ته يُ لار بنده کړه- همايُون هم نوَر تلل بس کړل- او قراچه خان دَ هندوکش سهيل ته دَ پنجشير په کندَه کښې دَ دَرو حفاظت دپاره او دَ کابل دَ بادشاه ساتني دپاره څه فوځ پرېښو او په دي غرهٔ واوريد بدخشان کښې کامران سره يوځاي شهٔ- کامران سمدستي په طاليقان باندِ قبضه وکړه او يو فوځ يُ دَ شيرعليخان دَ لاندِ کندوز ته راوليږهٔ او يو فوځ يُ اندراب ته چه دَ هندوکش دَ قطب سلاڅيُ کښې دَ کروشاه په پهانګ باندِ آباد دَي-

په ظاهر خو داسي ښکاريده چه دَ کامران تدبيرونه يا خو له سرَ بيفايدي وُو يا لکه څنګه چه پکار وُو هغسي عمل پرِ نهٔ کيدهٔ- هرڅه چه وُو قسمت يُ خراب وهٔ- دَ دهٔ سپه سالار شيرعلي دَ کندوز په جنګ کښې قيد شهٔ- او همايُون دَي في الحال آزاد کړ او دَ ډېر فوځ يو لوي افسر يُ کړ- دَ پنجشير په کندَه کښې چه کوم افسر مقرر وهٔ هغه ووژلي شهٔ همايُون دير لوي فوځ جمع کړي وهٔ- مرزا سليمان له بدخشان

نه دَ دهٔ دَ ملکیرتیا لوظ کړي وهٔ - دَي په ګروشاه دره بانډِ لاړ اندراب ته ورسید په دي ځاي يُ قبضه وکره - دَ کامران سړو دا ځاي ورښي پرېښيَ وهٔ - کامران پوهیدهٔ چه همایون به بیه طالیقان حمله کوي. هغهٔ دا ځاي دَ قراچه خان په فوځ مضبوط کړي وهٔ. او څه فوځ يُ ورسره ځپل هم کړ کړ او ځنیله له دي ځاي نه پنځوس میلَ لري سره دَ ځپل فوځَ پریوت ځکه چه حاجت شي نو په دښمن به ورو خیژي -

دا موقعه کامران ته ډیره زر په لاس ورغله - طالیقان دَ فرخار سیند په ځړ بانډِ هغه ځاي کښ پروت دَي کوم ځاي چه دا سیند بانګي سیند سره یوځاي کیږي - همایون دا فکر وکړ چه دَ ځپل فوځ څه حصه دَ بانګي سیند نه پوري غاړه ولیږي چه دَ کامران او طالیقان تر مینځَ تلهٔ راتلهٔ بند شي او بیا له بلي ډډي نه په ښهر وَروخیژي - دا کار هغهٔ مرزا هندال ته حواله کړ لیکن په دي قراچه خان زر خبر شهٔ - چه هغهٔ کامران په دي خبر کړ کامران دَ بریښنا په شان په تلوپ طالیقان ته راورسید او څه وخت چه هندال له بانګي سیند نه هغه خوا پوریوت. نو دَي پر نلڅاپه راپورته شهٔ او داسي شکست يُ ورکړ چه هندال سره دَ نقصانَ روستو شهٔ -

کامران لکه څنګه چه آزموده کار وهٔ دغه سي دَ دهٔ جرنیلان هم وُو - دهٔ ته دا پکار وُو چه له دي فتحي نه يُ فایده اخستيَ وَي - لیکن ګورَي چه ولي يُ داسي کار وُ نهٔ کړ - او دَ طالیقان

نه لړ لري په یوه غونډۍ بانډ دَ قلابندۍ په شان پریوت -
همایون په دې موقعه خپله جرنیلي ښکاره کړه - هغهٔ دَ بانګي سیند
له هغه غاړي نه ولیدل چه خما فوځ شکست وخوړ او په دې به
خما دَ ملګرو زړهٔ کمزوري شي نو دا يُ مناسب وګڼړله چه دَ
دې شکست داغ زر ووینځي - او في الحال له ښهر نه یو مسیل
ښکته په یو ګودر له دې سیند نه پوریوت او نیغ کامران ته
ورغئ -

دَ کامران دپاره دا ښه موقعه وَه - قلا سره کومه موقعه
چه لاس ته ورغلي وَه که حمله ي کړي وَي نو دَ دښمن میمني
او میسري ته ښهٔ نقصان رسیدهٔ - دهٔ که غوښتي نو فوځ به يُ
ترهغې منع کړي وهٔ تر څو چه قراچه خان دَ همایون میمنه او
میسره صفا کړي نهٔ وَي - او داسي به کامران خواه مخواه فتح کړي وَه او
له فرض کړو همایون روستو شوي هم وَي نو یو داسي قلا ته
به تلي دهٔ چه هلته بیا دَ کامران کټه وَه -

لیکن خدای خبر کامران ولي داسي وُ نهٔ کړل - دَې حملي
ته تش وُ هم نهٔ دریدهٔ - او في الحال يُ خپل کیمپ پرینود په
شا بیرته راغئ - دَ دهٔ ټول سامان دښمن ته په لاس
ورغئ -

همایون في الحال له طالیقان نه چاپیره شهٔ - دَ هغهٔ بیا
په کامران زړهٔ وسهٔ او رحم يُ پر راغئ - دَ روغي سوال ځواب
يُ ورته وکړ لیکن هغهٔ منظور نهٔ کړ - څومره چه ورځي تیریدې

دَ کامران امیدونه خاوري کېدل - او آخر دَ هغهٔ زړهٔ وښویدهٔ څو ورځې پس یې له همایون نه معافي وغوښته - کامران دَ روغې دپاره یو معتبر سړی ولیږهٔ -

دې سړي دَ روغې شرطونه فیصله کړل - کامران طاعت ومنهٔ - او همایون ته یې بادشاه ووِ - هغه بچیله مکې ته تلل او دَ یاغي سردارانو په زنځیرونو کښې حواله کول منظور کړل - کامران اصل کښې دا ډېر ښهٔ شرط وکړ چه یاغیان به هله درکړم که دَ هغو دَ سر امن وي -

په آګست ۱۵۴۸ع کښې کامران وسله وغورزوله او دَ همایون په اجازت یې یو څو سرداران ځان سره مکې ته بیولو دپاره خوښ کړل په دوئ کښې یو یاغي سردار باپوس بېګ هم وهٔ - دهٔ باندې کامران ډېر ظلم کړي وهٔ او اوس یې ځان سره بیولو کښې دا مطلب وهٔ چه دَ دهٔ زړهٔ ښهٔ شي دَ کامران دا ورُوکې عوندې بتولی هم هغه اثر دَ ترکستان سرحد پورې ورساوهٔ کوم چه دَ کامران نیولو دپاره دَ کابل نه دَ تبتیدو په وخت تلی وهٔ لیکن کامران یې نیولی نهٔ وهٔ -

لنډه دا چه یو ځل بیا داسې وشو چه همایون دَ کابل بادشاه شهٔ - همایون دوه ځلې خېل ورور ته شکست ورکړ او دواړه ځلې یې بې لاسو بې پښو وشاړهٔ - دا پېره دَ دهٔ زړهٔ سواندې طبیعت یاغي سرداران هم دَ ځان په ډډه کړل، ولې چه دَ دې سردارانو یقین راغلی وهٔ چه کامران اوس

بادشاهي نهٔ شِي سنبالولَی. بیا هم دَ دي زماني داسي باد غږیدلي وهٔ چه کامران سره دَ دي چه شړوَنی جلاوطن وهٔ هم يې دَ کابل تخت ته ښهٔ نقصان رسولي شهٔ. په افغانستان کښې دَ هغه زماني رواج هم دَ نن زماني دَ رواج په شان داسي وهٔ چه څو پوري بادشاه خپل رقیب مړ نهٔ کړي ستر هغي دَ هغهٔ بادشاهي په امن کیدَي نهٔ شِي. دَ همایون هم هله امن نصیب کیدَي شهٔ چه کامران يې وژلَي وَي تش قیدول يې ښهٔ نهٔ وُو ځکه چه دَ تښتیدلو ویرهَ وهٔ په کښې. په سترګو ویستلو هم دَ رقیب طاقت نهٔ کمیدهٔ.

کامران له سرحد نه ځلوبښت میلَ هم نهٔ وهٔ تلَي چه خبر شهٔ چه همایون په ډک دلبار کښې دَ ټولو یاغي سردارانو ګناهونه معاف کړل او هغو ته يې بیا هغه پخوانَي عهدي او عزتونه ورکړل. چه کامران دا واوریدل نو دَ مکّي له تلو نه يې زړهٔ وګرزیدهٔ او فکر يې وکړ چه که دَ همایون دلبارَ پوري زهٔ ورسیدم نو خما قصور به هم معاف شِي. په دي مطلب يې پابوس بیګ ته عرضي ورکړه همایون ته يې راولیږهٔ. هغه ځاي نه دهٔ ته دَ دهٔ دَ زړهٔ جواب ورکړي شهٔ. یعني کامران ته دَ راتلو اجازت وشهٔ. دي نه پس چه په دلبار کښې دَ کامران څه خاطر او عزت وشهٔ دي نه معلومیږي چه همایون دَ لوي سیني خاوند وهٔ. چه دَ دهٔ ورور دلبار ته راغَي نو حکم يې وکړ چه دَ دهٔ له غاړي نه هغه پړي وباسَي چه دهٔ ته دَ ګناه په

په نښه کښې اچولې شوي وه. کامران چه دلبار کښې راغی کښیناست نو د خپلو ځوانو اړوپیسو ي څه عذر معذرت کاوه همایون ورته ووې چه څه وشو هغه وشو. بیا دواړه وروڼه پاخېدل او غاړه غړې شول او سترګو کښې ي اوښکې وګرزېدې بیا همایون خان سره کامران په تخت کښیناوه. بیا ي دوه دې وخوړله او مالګه ي وڅکله. د دلبار خلقو د خوشحالۍ چغې وویستي او په ظاهر کښې دا پوره اتفاق وه.

کابل ته د تلو نه ورنبې همایون د بوخو صوبو او ضلعو دوره وکړه چه هلته ټولو دي شهنشاه ومانه. د بدخشان په حکومت ي مرزا سلیمان بیا په ځاي کړ او د طالیقان ضلع او د هغې قلا ي ورته پر زیاته کړه. هندال شهزاده ته ي کندوز او د هغې سره ضلعي چه په هغو کښې مشهور ځایونه غوري، باغلان دي ورکړل. او کامران ته ي د کولاب صوبه چه د درواز او شغنان په منځ کښې ده ورکړه د دي صوبي په قطب او نورخانه کښې یوه وړه غونډ ضلع قراتشقین نوم ي شهزاده عسکري ته ورکړه. څکه چه همایون قندهار واخست نو هاله عسکري تابع شوي وه. او تر دي ساعت همایون تر ه خفه وه.

کامران او عسکري همایون سره ډېره سخته دښمني کړي وه څکه په دي موقعه دي دواړو ته څښتي صوبې ورکول د همایون لویه غلطي وه - په دې کښې دا عیب وه چه

دَ دهٔ په دوارو بي اندازي اعتبار وهٔ. دَ دي دوارو وزیر يُ علي بیک مقرر کړ چه دَ دغي علاقي معتبر سړي وهٔ او دَ دهٔ وفاداري ډیر خلکو ثابته شوي وه.

په ۲۰ اکتوبر ۱۵۴۷ ع کښې همایون کابل نه راروان شهٔ دَ قطب دېدي ضلعو نه لا رخصت شوي نهٔ وهٔ چه دا خیال ورته پیدا شهٔ چه په څه شان اُزبک ترکیان له بلخ وباسم. دي مطلب دپاره دهٔ کامران به خپله ډډه کړي وهٔ. او لوظ يُ ورسره کړي وهٔ چه که دَ بلخ صوبه فتحه شوه نو دَ دي بادشاهي به تا له درکړم. هر کله چه دَ دي کابل ته راورسید نو دَ مني موسم شروع کیدهٔ او دَ ژمني دَ راتلو وخت وهٔ. هغهٔ ډیر په تندئ دَ لام تیاري وکړ خو چه دا تیاري خلاص شهٔ نو دَ کشمیر مشهور او بیدار حاکم مرزا حیدر چه همایون يُ شهنشاه مَنليَ وهٔ ورته سړي راولیږهٔ او په هندوستان باندِ دَ حملي کولو او دَ شیرشاه ټبر چه هغهٔ دَ بابر بادشاهي اخستي وه دَ ملک نه دَ ویستو چلونه يُ ورته وښیل.

له دي چلونو نه زیات نور دَ همایون دَ لمسولو دپاره څهٔ وُو ؛ ظاهر کښې دا ټول کارونه دَ کیدو ښکاریدل مرزا حیدر دَ شیرشاه زوم نه کشمیر راخلاص کړي وهٔ. او خپل خان يُ یو لوي جرنیل ښکاره کړي وهٔ. اوس يُ همایون سره دَ بادشاهئ واپس اخستو دپاره دَ خپل خان او دَ خپل

نوځ او دَ خپل ملک دَ خدمتونو هم لوظ کړي وُه. اصل کښې دا لوظونه او چلونه داسي ښهٔ او ښایسته وُو که چیري همایُون دا وخت وُزګار وَي نو ډیر په تَنَدَيَ به راغلیَ وه - لیکن دَ دوهُ وُ وجهو نه دهٔ داسي وُ نهٔ کړل. یو دَ ازبکیانو بندوبست او بل په کولاب او قراتسفین کښې دَ کامران او دَ عسکرِي سازباز.

مونږ وړښي لیکليَ دِي چه اُزبک ترکیانو کامران ته دَ همایُون برخلاف مدد ورکړِي وُه. دا کار هغويَ ځه په مِینه نهٔ وه کړَي بلکه دي دپارهِ چه په خپلو جنګونو کښې دَ مغلو بادشاهِي کمزوري شي. او څکه چه په طالیقان دويَ جنګیدل او دَ دوارو طاقتونه یوشان وُو نو ازبکیانو کامران ته له مدد ورکولو نه انکار وکړ. دَ اُزبکو په وړښي کار همایون او په دوېم کامران خفه وُه. بله دا چه دَ بلخ غونډِ مشهور ښهر کښې چه دَ جیحون دَ سیند په سهیل طرف کښې پروت دَي. او دَ اُزبکو زور په هیځ شان دَ مغلو بادشاهَيُ دپارهِ فایده مند نهٔ وُه. همایُون څکه پوخ نیت کړَي وُهٔ چه دويُ دَ جیحون دَ سیند نه پوري با که نهٔ وِي نو له بلخ نه خو خواه مخواه ویستل پکار دِي. دي مطلب دپارهِ دهٔ تیارَي کړَي وُه. او دا تیارَي دومرهِ ډیر شوَي وُهٔ چه اُزبک سردار پرِ هم خبر شوَي وُه.

دَ کامران له ډډي هم همایُون بیغمَ نهٔ وُه. کامران چه دَ بادشاهَيُ مزهِ اخستي وَه اوس هغه تش دَ کولاب مالک

وُه دَ کولاَب او دَ دهٔ داسي خبره وَه لکه دَ آلبا او دَ نپولین بوناپارت ـ او دَ دي وړي ضلعي دَ حکومت نه دَ هغهٔ زړهٔ تنگ شوَي وهٔ ـ ځا چه دَ آس سوړلي کړي وِي نو دَ خره سوَرلي مزه نهٔ ورکوِي ـ دَ حکومت ارتولو په کوشش کښ هغه ورښي کار دا وکړ چه علي بیگ چاکر سره چه هغه همایوُن دَ دهٔ او دَ عسکرِي مشر وزیر کړي وهٔ جگړه يُ پیدا کړه ـ بیا چه دَ دوي بلي علاقي هم ورکولو دپاره دَي کابل ته راوغوښت نو دهٔ صاف انکار وکړ ـ په دي خبرو دَ همایوُن یقین وهٔ چه که زهٔ هندوستان ته لاړ شم نو کامران به مِ بادشاهيْ اخستو ته پرێنهٔ ږدِي ـ

دا ټولي خبري يُ مخکښ کیښوي نو همایوُن دَ حیدر مرزا تجویزونه منظور نهٔ کړل او په بلخ يُ دَ لام ترلو نیخه اراده وکړه ـ دَ ۱۵۴۹ سنه په سپرلي کښ دَ دهٔ تیارَي خلاص شهٔ ـ همایوُن دَ غزنِي حاکم حاجي محمد دَ بدخشان حاکم مرزا سلیمان ـ دَ کولاَب حاکم شهزاده کامران ـ دَ قراتیغین حاکم شهزاده عسکرِي او دَ کندوز حاکم شهزاده هندال ته جواب وکړ چه في الحال راشئ ما سره ملاقات وکړئ ـ

حاجي محمد او دَ بدخشان دَ حاکم زوي مرزا ابراهیم پورَات چالاک کښ چه کابل سره پو ځای دَي دَ همایوُن فوځونو ته راورسیدل ـ دي نه پس چه استیلاف بانږ دَ پنجشیر کندي ته ورسیدل نو خبر راغئ چه اُزبک

میدان ته راکوز شول. همایون په درو ووت د اندراب په
لاره تارین ته راغئ او په نیلبار کنده باندې باغلان ته لاړ. په
لاره شهزاده هندال او مرزا سلیمان هم په بادشاهي فوځونو
کښې ګډ شول.

په باغلان کښې همایون د شهزاده کامران او شهزاده
عسکري انتظار وکړ. لیکن چه هغهٔ ته معلومه شوه چه سره د لویو
لویو لوظونو او قولونو دا دواړه شهزادګان له خپلو ښهرونو نه
خوځیدلي هم نهٔ دي نو ویره ئې پیدا شوه چه دوئ ضرور
ما ته تیر راکولو ته ناست دي. بیا هم د دهٔ همت کم نهٔ شهٔ او
لږ غوندې فوځ ئې د بدخشان په څوکئ مقرر کړ ایبک خان ته
روان شهٔ. ایبک د بدخشان په سرحد یوه مضبوطه قلا وه. اول
خو دلته د خوراک سامان کم وهٔ بل همایون ډیره زوروره حمله
کړې وه ځکه ډیر زر قابو کښې راغله. اوس که همایون دې
ځاي نه سمدستي تلی وې نو به ټول بلخ به ئې قبضه کړي
وه ځکه چه ایبک زر فتح شهٔ نو د ازبکیانو زړه پریوت. لیکن
د کامران سستئ د همایون په ګرمئ باندې اوبهٔ تویې کړې.
هغه تر اوسه په دې طمع وهٔ چه کامران به راشي. دا ویره
ئې په زړهٔ کښې وه که زهٔ د ازبکو په جنګ کښې ونښتم نو
کامران به ضرور سر اوچت کړي. په داسې حیرانتیا کښې
بني آدم همیشه په مینځوماں لاره باندې ځي او له دواړو ډډو نه
په غم اخته کیږي. همایون هم داسې وکړل په ازبکو ئې ځکه

حمله وُ نهٔ کړه چه هسي نه وروستو نه کامران شورشر جوړ نهٔ کړي او دَ کامران برخلاف يُ څکه فوځ وُ نهٔ لیږهٔ چه کامران یاغي نهٔ شي. پس په خاي ناست وهٔ او حال ته يُ کتل. چه له کومو خبرو نه ویریدهٔ هغه دواړه وشوي. دلته اُزبکیانو حمله وکړه. دَي يُ په ورستو کړ. او هلته کامران یاغي شهٔ.

همایون په ایبک دومره ډیل وکړ چه اُزبکو ته کومک راورسیډ او هغوئ په ځل مُذبذب حمله کونکي باندِ دَ حملي کولو نیت وکړ. دا وخت همایون هم دَ مخکښ تلو نیت کړي وهٔ لا له دُرشلي نه يُ ښیه نهٔ وَه اړولي چه اُزبک پرِ راغلل او دَ دهٔ دَ فوځ سامان يُ لوټ کړ. همایون هر رنګ وړاندِ تهٔ او په دي امید چه ګورَي له کامران راشِي ډیر سُست روان وهٔ. دَي تلو تلو تر بلخ ورسید لیکن کامران رانغي.

همایون ته دلته دا ښه معلومه شوَه چه کامران په څه فکر کښ دَي او دلته بیا پرِ یوځل لمخي اوبهٔ توِيي شوي. اګرکه دَ دهٔ فوځ تر بلخَ تلَي وهٔ او بلخ باندِ قبضه کولو دپاره لږ غوندِ کوشش پکار وهٔ لیکن همایون ویریډهٔ چه چرته داسي نهٔ وِي چه زهٔ په دي ښهر قبضه وکړم او دَ اُزبکو ټول قامونه راباندِ راټول شِي او هلته کامران په کابل راوخیژي. په داسي فکرونو کښ دَ حملي زړهٔ يُ نهٔ شهٔ کولَي. ناچاره شهٔ نو دَ مصلحت دپاره يُ دَ جنګ افسران راجمع کړِل او جرګه

يُ وکړه.

داسي جرګه اکثر دَ جنګ نه مخ اړَوِي دا وخت هم چا په بلخ دَ قبضي کولو يا دَ کامران دَ غوڅ تاوولو راي ورنهٔ کړه. په دي خبره دَ ټولو مصلحت راغيَ چه له بلخ نه ۱۲ ميلَ ډيره کښينو کښي پړاوُ کول ښکار دِي. دي ځاي نه کابل ته لار ځي او که کامران وفاداري وکړه نو له دي ځاي نه حمله کول آسان دِي.

دَ دي تذبذب نتيجه هغه وشوه چه نهٔ وَه ښکار. دَ فوځي سردارانو په زړونو کښي چه دَ کامران په باب څه څه خيالات وُو هغه هم پټ پاتي نهٔ شول. دَ فوځ په هر مجلس کښي دَ کامران خبري کيدي همايون چه دَ افسرانو په مصلحت فوځ کابل مخ ته راوګرزاوهٔ نو دا حکم اکر که ستر ډيره کښينو پوري وهٔ ليکن په ټول فوځ کښي دا هُو پريوَت چه همايون له دي ويري دا حکم کړي دَي چه کامران په کابل حمله کړي. هر طرف ته خلق اوتر شهٔ. ډيرو سپاهيانو چه کابل کښي آل عيال پرېښي وهٔ هغو ته دا معلومه وَه له کامران کابل قابوُ کښي کړ نو دَ هغو بال بچ سره به څه وکړي. اُزبکيانو چه همايون په تلو وليد نو هغوئ دَ تړنولو دپاره راورسيدل. دي کښي شک نِشته چه دَ همايون په کوشش يوه ډله دَ اُزبکيانو مقابلي دپاره ودريدلي وَه او څه ساعت پوري يُ دوئ منعَ کړي هم وُو بلکه آخر يُ وروستو کړي هم وُو. ليکن په

دي خبره د سپاهیانو په تیښته کښې څه فرق را نه غی - د همایون آس زخمي شهٔ پرویت په څوځ کښې اړي کړي جوړ شهٔ - هر سړي په دي فکر کښې وهٔ چه په څه شان به کابل ته ورسو - اصل کښې د همایون دا ړاګرزیدل د نپولین د ماسکو د ړاګرزیدو په شان وُو - څوځ تار په تار شوي وهٔ همایون سره نهٔ آس وه نهٔ ملګري - یواځي وږي تږي ستړي ستومانه د غرونو په لار راتهٔ - دي خبر نهٔ وهٔ چه صبا ته به څه کوم او ن څه - لنډه دا ده چه کابل ته ورسیدلو بادشاه نهٔ وه - یو فراري وهٔ چه له ازبکیانو نه راتښتیدلي وهٔ دلته پټ شهٔ -

په دي مُده کښې کامران څه وکړل - دا خو د هغهٔ له خوئي نه څرګنده وه چه هغهٔ به موقعه کتله او همایون ته څکه راتهٔ غی چه د دهٔ مراد تر سره نهٔ شي - لیکن دلته همایون ته معلومه شوه چه کامران د کابل اخستو څه کوشش نه وهٔ کړي هغه له کولاب نه هم باهر نهٔ وهٔ راوتي - پس له همایون د بلخ لام بس کړي نهٔ وي نو څنګه به بنه وه کوم خیال چه دي د بلخ له فتحي نه راوګرزاوهٔ هغه هسي وهم وهٔ -

لیکن چه دي راوایس شهٔ کابل ته راغي او سرداران او سپاهیان ئي کډوډ شول نو کامران ته هغه وخت په لاس راغی کوم ته چه ناست وهٔ - کامران د جنګ له

کار نه په سیاست ډیر ښهٔ پوهیدهٔ. په جنګونو کښې به تل اکثر غلط کارونه کیدل خو د سیاست په کار کښې تل نه چرې غلطي نهٔ وه شوي. لکه چه دا وخت هغهٔ خپل ورور عسکري کولاب ته وباله او دواړه بدخشان ته روان شول۔

اګر که د بلخ له شکست نه پس مرزا سلیمان بدخشان ته راغلی وهٔ لیکن هغه وخت هغهٔ سره د کامران د مقابلې دپاره کافي فوځ نهٔ وهٔ لکه چه هغهٔ طالیقان د دښمن له قبضې نه وُ نهٔ ساتلی شهٔ بیا هم په ظفر قلا کښې هغه حشه سپاهیان کښینول او لږ غوندې فوځ يې واخست د حرم سره د غونډو په خوله بانډې یو د امن ځاي کښې د دښمن مقابلې دپاره ودریدهٔ. د کامران دا نیت نهٔ وهٔ چه د مرزا سلیمان سره غرونو کښې جنګ وکړي او وخت برباد کړي ځکه يې طالیقان د پاپوس بېګ د لاندې یو څو سپاهیانو ته حواله کړ کندوز ته لاړ چه دلته د دهٔ ورور هندال حاکم وهٔ. هندال هم له بلخ نه واپس راغلی وهٔ او ډیر په بهادرۍ يې د همایون چنداول قابو کښې ساتلی وهٔ. کامران ډیر چلونه ولونه وکړل چه هندال دهٔ سره ملګرې شي لیکن هغهٔ انکار وکړ. او دهٔ مخامخ کندوز ته ډیره وُ لګوله۔

د هندال هوښیارتیا او چالاکۍ د کامران لاس په

کندوز بر نه کړ - دې لا په دې ارمان کښې وه چه خبر
راغې چه چاکر علي بيګ چه ورسږې ستا وزير وه او بيا درسره
وران شوی وه اوس ئې په کولاب باندې حمله وکړه او عسکري
ئې مات کړ او له کولاب نه چاپېره پروت دی - کامران دا
هم واورېدل چه مرزا سليمان له غرونو نه راوتی دی او
ده ته لاره نيسي - ناچاره شه کندوز ئې پرېښود او څه
فوج ئې د مرزا سليمان مقابلې ته ولېږه چه دی هم
هغلته منع کړي او پخپله کولاب ته لاړ -

ليکن د کامران غونه لا خلاص شوي نه وو چه ده
کولاب له دښمن نه خلاص کړ او عسکري هم ورسره يوځای
شه - نو په سليمان باندې د حملې کولو دپاره د کوايک سيند
نه پوري راورسېد او روستاق ښهر سره ئې ډېره ولګوله -
دلته ناڅاپه د ازبکو يو ټولي د ده په فوج راپرېوت او سم
د لاسه ئې داسې لوټ کړ چه کامران د دوئ مقابلې ته سم
نه شه - له بدو شاميت د ازبکيانو سردار سيد ازبک د
کامران دوست وه - خو ازبکيانو په حمله کښې دومره صبر
و نه کړ چه هغه معلوم کړي وي چه دا د چا کيمپ دی -
لنډه دا چه څه نقصان د کامران وشه هغه وشه - کامران
عسکري او يو څو سرداران له ډلکي مارو نه بچ شول - ليکن
فوج غيب شوی وه او بيا د راجمع کولو ئې څه اميد نه وه
ځکه چه سليمان او هندال دواړه د دې ياغي ورونړو مقابلې

دپاره راتلل.

دي بله‌پسې مصیبتونو دَ کامران ملا ماته کړه. هغهٔ خپلې ارادې ټولې پرېښوې، او دا کوشش ئې وکړ چه هر رنګ چه وي ځو ښت ته ورسېږي او له هغه ځاي نه ضحاک او بامیان بانډ دَ هزارې ملک ته لاړ شي او هلته آستوږنه راواخلي. بیا چه څه ورته دَ کابل ملکرې وائي هغه وکړي.

اګر که کامران ته خپل قسمت جواب ورکړې وهٔ لیکن بیا هم یو کار دَ هغهٔ په حق کښې ښهٔ وشهٔ او هغه دا وهٔ چه له بلخ نه دَ همایون په واپس کېدو بانډ دَ دهٔ دَ دلبار لوې لوې سرداران دهٔ نه زړهٔ بدې شوې وُو. په دوې کښې ډېر لوې قراچه خان وهٔ. دې اګر که دَ ټولو پوزه وهٔ لیکن دهٔ سره نور هم ډېر ښهٔ ښهٔ وُو. دوئ پوهېدل چه کامران اګر که تریخ او سپین سترګې سړې دې خو دَ همایون غونډ زړهٔ سواندې او بیفکر نه ښهٔ دې.

دا خلق چه خبر شول چه کامران لږو غونډ ملکرو سره دَ غزونو په لاره بامیان ته ځي نو دوئ له خپلې خیر خواهئ او نمک حلالئ نه هغهٔ ته خبر وکړ او دا مصلحت ئې ورکړ چه تهٔ خپل ورور همایون په دې شان راضي کړه چه ما نه خطا شوې دهٔ معاف م کړه. بیا به داسې غلطي نهٔ کوم او دا ئې هم ورته ولیکل چه مونږ به کوشش وکړو همایون به تا نه خفه کړو او ستا مقابلې دپاره به فلانې فلانې ځایونو

ته فوځونه ولیږو او ته له هغه ځایونو نه ورښې بیرته
شه په دې چل به په همایون او په کابل باندې قبضه کول
تا ته آسان شي.

کامران دَ دې چلونو په نیکې باندې عمل وکړ
او مصلحتیانو خپل لوظونه پوره کړل. دَ هغهٔ دَ عاجزۍ
درخواست همایون نامنظور کړ. او دوه لوی لوی فوځونه ئې دَ
هغهٔ دَ نیولو دپاره ولیږل. یو ضحاک او بامیان ته بل
سالالنګ ته. همایون پخپله لږ غوندې فوځ راواخست او دَ
قیچاق دَرې ته راغئ.

څه وخت چه ورښې فوځ خپل ځای ته رارسید نو
کامران بامیان پرېښو او په ډوره سره دَ لښکر چه ورځ په
ورځ زیاتیدهٔ دَ قیچاق دَرې ته راروان شهٔ. چه قیچاق
ته راغئ نو دلته هم مصلحتیانو خپل کار کاوهٔ. دَ کامران
دوستان همایون سره وو. کامران اګرکه ناڅاپه راغلئ وهٔ خو
که دَ همایون ملګرو نمکحلالي کولئ نو کامران ئې واپس
کولئ شهٔ. چه کامران دَ غشي ارتاو ځای کښې راغئ نو
دې نمکحرامو دَ هغهٔ دَ ګولئ جواب ورنهٔ کړ او په اشارت
ئې ځان ته وبلهٔ. کامران ګکوتهي بنه نیولئ راوړاندې شهٔ
دَ همایون ملګري یا خو تار په تار شوي وو یا دَ کامران
سره ملګري شوي وو. یو کم اصل کولابي خو دومره ډیر
زیاتئ وکړ چه همایون ئې په توره زخمي کړ لیکن دا زخم

دَ هلاکت نهٔ وهٔ. همايون يو څو وفادارانو دَ سيستان دَري
ته يوور چه هلته دَ هغهٔ وفادار سردار حاجي محمد خان هم
ورته راغئ. آخر همايون په خوارو اندراب ته ورسيد.

کامران چه وليدل چه دَ همايون ملګري تښتي تر
خپله وس يَ هغو پسي فوځونه وليږل او خپله فوځ يَ
راواخست چاريکار ته راروان شهٔ. دلته دهٔ دَ همايون په
وينو لړلئ بکتر وليد يوه شهٔ چه همايون زخمي شوَي دَي
او دا يَ کابل ته راوليږهٔ چه دَ کابل ګورنر ته وښودلئ شي
چه همايون زخمي شهٔ او شکست يَ وخوړ او دا يَ نښه دَه.
دَ کابل ګورنر چه ښهر کامران ته نهٔ ورکاوهٔ دا بکتر يَ چه
وليد او وُ يَ پيژندهٔ نو تابع شهٔ.

کامران په درېيم ځل دَ کابل بادشاه شهٔ. کابل سره دَ
همايون خزانې او دَ هغهٔ وړوکي زوي په لاس ورغئ. دا
وخت دَ کامران په زړهٔ کښې لوي لوي اميدونه وُو ځکه چه
دَ دهٔ دا يقين وهٔ چه ورور يَ مړ شوَي دَي. او که هغه مړ
شوَي دَي نو بيا ويره دَ چا ده. خوداختيار شهٔ. هغهٔ دَ خپلې
بادشاهۍ ګټې صوبې خپلو يارانو باندې تقسيم کړې. لکه عسکري
ته جلال آباد. قراچه خان ته غزني. ياسن دولت ته يَ چه همايون
پسي تلي وهٔ غوربند ورکړ. فوځونه يَ هم جمع کړل او دَ هزاره
او پښتنو قامونه يَ بهرني کړل چه دَ حاجت په وخت به
بکار شي.

ليکن يو ځل يُ بيا هم دَ قسمت لوبه په نصيب پرته وَه.
دري مياشتي نهٔ وي تيري شوي چه خبر وکړزيږ چه دَ همايون زخمونه جوړ شول او له اندراب نه وتيَ دي او دَ هندوکش په هغه لار راځي چه دَ پنجشير کندي ته تلي دَه.

کتاب کتونکو ته به ياده وِي چه په ورښو موقعو کښ کابل يا طاليقان کښ کامران چري له خپله ځايَ نسۀ وهٔ خوځيدليَ.او په دي انتظار کښ وهٔ چه دښمن به کله راځي او هم په دي وجه هغهٔ شکستونه خوړلي وُو.دا ځل هغهٔ دا غلط حکمت پريښو او چه وا يُ وريدهٔ چه همايون له اندراب نه راځي نو خپل فوځ او قراچه خان، شهزاده عسکري او سبل ياس دولت غوندِ آزموده کار سرداران يُ ځان سره واخستل دَ پنجشير کندي ته روان شهٔ او په يَو اوچت ځاي بانډِ چه دَ هندوکش په سهيل اړخ بانډِ وهٔ دَ همايون لاريُ بنده کړه ودريد.

په دي ورځو کښ همايون خپل هغه سرداران چه ستر اوس وفادار وُو راجمع کړل.او جنګ ته رواند و نه ورښي يُ ورته په منت وُوِ" دَ دي خبري قسم وخوريُ چه په هر حال کښ به ځما خدمت ته تيار ولاړ يئي او هيچري سبه بيوفائيَ نهٔ کويُ". سردارانو چه دَ همايون درخواست واوريد نو بي عذرَ قسم خوړلو ته تيار شول ليکن حاجي محمد په دي موقعه بانډِ زړهٔ وکړ دا خبره يُ له خولي راوُ وبيته چه مونږ خو به

قسم وخوړو خو بادشاه دِ هم دَ دي خبري قسم وخوړي چه ځمونږ په مصلحت باندِ به ځي. په داسي زمانه کښ چه دَ بادشاهانو په واک اختیار کښ به ځا دومره خبره نهٔ شوه کولئ سرداران دَ حاجي محمد په خبره حیران شول. په شهزاده هندال خو لنبه وګرزیده لیکن همایون پوهیدهٔ چه نن ځما سردارانو ته څومره حاجت دَي. ځکه هغهٔ ډیر په خوشحالئ دَ دهٔ خبره ومنله او وُ يُ وِ چه ښه دَه څه چه دَ حاجي محمد او دَ نورو سردارانو خواهش دَي هم هغسي به وشي. او دي نه پس يُ دَ دي قسم وخوړ چه دَ سردارانو په صلاح مصلحت به ځم.

دَ کرمئ مُده وَه ځکه همایون بي تکلیف په غرونو راتیر شهٔ او دَ خپل ورور دَ فوځ مخي ته راغئ. دهٔ دلته خپل فوځ ودراوهٔ او کامران ته يُ دَ صلحي سوال جواب ولیږهٔ په دي سوال جواب کښ چه کوم شرطونه دهٔ لیږلي وُو هغه دَ مشرئ په وجه ډیر په ځائ او مناسب وُو. دهٔ ورته دا شرطونه پیش کړي وُو چه کامران دِ همایون شهنشاه ومنِي او دَ هندوستان په جنګ کښ دِ ورسره مدد وکړي. کامران دا شرطونه ومنل خو دومره خبره يُ ورته راولیږله چه دَ کابل بادشاهي به ما سره وِي. همایون ورته وُوِ چه زهٔ متا دَ افغانستان او دَ هندوستان دواړو بادشاهو کښ شریکوم. کابل کښ به اکبر ځما نایب وِي. کامران دا خبره هم منله لیکن

قراجه خان چه دَ هغهٔ په طبیعت نوتي وهٔ دي خبري نه يُ منع کړ. هغهٔ کامران ته وُوِ چه کابل په هر شان خان سره ساتل پکار دِي -

کامران اوس جنګ ته تیار شهٔ. دَ هغهٔ خواه مخواه دا نیت وهٔ چه في الحال حمله وکړي. دَ مشرق تول تامونه په میدان کښ ډیر په بهادرئ جنګیږي. او کامران ته دا ښه معلومه وَه خو په دي نازک وخت کښې وَهم دَ دهٔ کار خراب کړ. ترويتيانو ورته وُوِ چه نن ورځ دَ بادشاه دپاره ښه نهٔ دَه. په دي خبره کامران پوخ نیت وکړ چه نن حمله کول نهٔ دِي پکار او که کیدَي شي نو دَ حمله کونکو نه ځان بچ کول پکار دِي. په دي نیت بانِ دَ دهٔ دَ ملګرو نیتونه وګرزیدل او څو افسرانو دَ دهٔ فوځ پریښو همایون ته لاړل او دَ هغهٔ سره یوځای شول دَ کامران په نامرديتيا پوري يُ خندل. همایون في الحال دا نیت وکړ چه دَ ترويتيانو خبره رښتیا کول پکار دِي.

هغه وړاندِ شهٔ لیکن چه دښمن ته نزدي شهٔ نو یو سپه سالار ورته وُوِ چه جګړه صبا دپاره پریښول پکار دِي. همایون وسواسي سړي خو وهٔ في الحال يُ ومنله لیکن نورو سردارانو دا خبره خوښه نهٔ کړه او حمله وشوه او بیا وړاندِ شهٔ. چه دومره مینځ پاتي شهٔ چه په دښمن حمله کیدَي شوَه نو دهٔ دَ ابراهیم مرزا فوځ ته حکم وکړ چه په هغه اوچت ځای بانِ حمله وکړي کوم ځای چه کامران پروت دَی. او بچپله

دَ دي فوځ مدد ته ودریې. دا حمله ډیره سمه وَه او مرزا ابراهیم ډیر په ښه شان سره وکړه. اګر که کامران دَ ځان بچ کولو ډیر کوشش وکړ لیکن دَ مرزا ابراهیم فوځ په سر ولاړ وَه. په داسي نازک وخت کښی قراچه خان چه دَ کامران دَ رسالي افسر وُه دَ همایوُن په میسره باندِ چه دَ شهزاده هندال ماتحت وَه ډیره خونخواره حمله وکړه او دَ ستړکو رپ کښی يې تار په تار کړه. دي نه پس قراچه خان بیا خپله رساله راجمع کړه او په هغه ورښې جوش يې دَ همایوُن په میمنه باندِ چه دَ مرزا سلیمان دَ لاندِ وه حمله وکړه ډیر دَ لړي بړي جنګ وشهٔ او دَ قراچه خان پـړه په زور کښی وَه. بدنصیبي راغئ دا بهادر سپه سالار په یوه داسي ګولئ ولګید چه دَي يې بالکل بیکاره کړ او آخر دَ همایوُن فوځ ونیو مړ يې کړ.

دَ قراچه خان په مرګ دَ کامران دَ سورو زړهٔ وتکید او دښمن وړاندِ تهٔ تهٔ هغه غونډيَ ته ورسید کوم ځاي چه کامران ډیر په بهادري جنګیدهٔ. دَ دښمن دَ کسي ډډي فوځ چه ښور دور شوَي وَهٔ په کامران راتول شهٔ. دَ انصاف خبره خو دا ده چه کامران ډیر پــه بهادريَ جنګ کښی لګیا وَهٔ او څو پوري چه دَ هغهٔ دَ فوځ لوي لوي سرداران مړهٔ شوِي نهٔ وُو او شهزاده عسکري قید شوَي نه وَهٔ هغهٔ میدان پرې نهٔ ښسو. لیکن چه تش

اتهٔ باران ورسره یاتي شول نو هغه يُ خان سره واخستل
له میدان نه وتښتیدل او پوره فتحَ دَ همایُون نصیب شوَه.

دي نه پس بیا دَ کامران دَ بخت ستوري چرِي وُنهٔ
ځلید او دَ همایُون دَ کابل بادشاهي بیا چري په خطره کښې
پرې نهٔ وته لیکن بیا هم چه دَ کامران عونډِ حرصِي او دَ
همت خاوند په ملک کښې آزاد گرزیدهٔ نو همایُون بېغمَ هم
نهٔ وهٔ. دي دپاره دَ همایُون له نورو حالونو نه وړنبي هغه
بیان پکار دَيُ چه دَ کامران په باب دَي.

کامران چه له میدان نه وتښتید نو تش امید امیدٔ
ورسره وهٔ. شپه او ورځ په تیښته دَ افغانستان هغه علاقو ته
لاړ کوم ځاي چه غرځهٔ او جاهل قامونه آباد دي. هغويُ
دَ کامران او دَ هغهٔ دَ ملګرو ټول اسبابُونه لُوټ کړل. دَي
غریب دَ فقیرانو په جامه کښې ماندراوار ته ورسید او دَ
هغه ځاي حاکم ته يُ خپل حال احوال وُوِ هغهٔ دَ دهٔ
ډیر خاطر وکړ او دَ هغهٔ په ملک کښې کامران دومره
فوځ جمع کړ چه دَ همایُون يُ بیا خان ته مخه کړه او څه
فوځ يُ ورسپي ولیږهٔ او کامران يُ دَ داوُزو او مهمندو
غرونو ته راوزغلاوهٔ. چه دَ همایُون له فوځَ خلاص شهٔ نو
ځلو نوؤ کورنو سره يُ سازباز جوړ کړ او په دي پښتنو
کښې کامران دومره رَو پیدا کړ چه ټول دَ دهٔ دپاره
جنګ ته تیار شول او دهٔ سره دَ کابل تر غرونو پوري لاړل

همايون ورپسې بيا فوځ راولېږۀ او دَ دۀ مراد وُنۀ شهٔ - څکه چه چرې به کامران دَ همايون فوځ وليد نو تښتيدۀ به - او بيا به ئې چرته بل ځاې کښې سر وييستهٔ - بعضو ځايونو کښې چه به همايون يواځې ورپسې راووَت نو دۀ به دَ هغهٔ په کيمپ حمله وکړه - همدغه په يوه حمله کښې دَ دۀ ورور هندال چه دَ همايون له ډېرې جنګيدۀ مړ شهٔ ليکن کامران وابس نهٔ آخر انجام دا وشهٔ چه سره دَ دې چه ۱۴۰۰۰ فوځ دَ کامران ځنګه وۀ خو دَ همايون فوځ پرِ شپه په شپه برِيد وکړ او له دې غمٔ کامران وتښتيد په اباسِين پوريوت او دَ هندوستان پښتون بادشاه سليم شاه سره کښيناست -

ليکن دلته هم دَ هغهٔ دَ آرام څه صورت جوړ نهٔ شهٔ سليم شاه دَ هغهٔ عزت وُ نهٔ کړ - کامران دَ هغهٔ له کيمپ نه دَ ښځو په جامه کښې وتښتيد او بيا ئې پله پسې له دوهٔ هندوانو راجګانو نه مدد وغوښت - ليکن دَ سليم شاه په وېنا هغو هم ځان سره پرې نهٔ ښو - دې ځايونو نه ووَت دَ راولپنډۍ په ضلعو کښې دَ ګهکړيانو سره ئې سر پټه سوُرِې کړ - دَ ګهکړو سردار دَ همايون په طرف وۀ هغهٔ هغه وخت همايون ته سړې ولېږۀ چه له حکم کوې نو کامران لاس نيولې درکوم - کامران چه په دې خبر شهٔ نو هغهٔ هم هغه سړِي ته يوه چيټۍ دَ همايون په نوم درکړه چه په کښې ئې معافي غوښتې وَه او لوظ ئې کړې

وهٔ چه کوِي خطاکاني ما نه شوِي دِي زهٔ به دَ دي بدل خلاص کړم. دا خبر چه وړورسید نو همَایون چه دَ هغهٔ اوس بنهٔ یقین راغلیَ وهٔ چه څو پوري کامران آزاد ګرزِي نو به آرام بادشاهِي څما نهٔ نصیب کیږِي یو فوځ ئي راواخست او دَ قیدِي ورور ملاقات دپاره سپه اباسِین پورِیوت.

دَ کامرَان په نصیب اوس څهٔ لیکلِي وُو؟ دَ هغهٔ دَ مصیبتونو جام اوس ډَکُ په ډَکُ شوَي وهٔ. یا دَ مشر ورور له رحم نه ئي څه نوره فایده هم په نضیب کښ وه؟ همایُون خدای په زړهٔ نرم پیدا کړِي وهٔ. دهٔ ته سپلار وصیت کړِي وهٔ چه دَ هرچا سره او بیا دَ ورونړو سره مهربانِي کوه. لکه چه تر اوسَ پوري هغهٔ دَ ورونړو ګناهونو ته نهٔ کتل. هغهٔ هندال سره دَ دي چه یاغِي وهٔ څان ته بللیَ وهٔ. عسکرِي چه دَ دهٔ مرګ ته تیار وهٔ دوهِ ځلي همایُون معاف کړَي وهٔ. په څان کامران سرهِ دَ دي چه ډیر ځلي یاغِي شوَي وهٔ همایُون ورسرهِ یو ځل غارهِ غړَي شوَي وهٔ ژړلِي ئي وُو. هغه کامران چه یو ځل ئي ورسره ښکِي کړِي وَه. دوه ځل ئي له تخت کُوز کړَي وهٔ. او چه په وینو لړلیَ بکتر ئي ولید نو په مرګ ئي خوشحال شوَي وهٔ. هغه کامران چه تل ئي شیطانیُ کولي دَ همایُون ژوند ئي په دار کړِي وهٔ اوس بیا یو ځل دَ

مشر ورور همایون په قبضه کښې وهٔ. همایون که اوس بیا د
هغهٔ خطا معاف کړي وي نو په آرام کښیناستې شهٔ؟

همایون دا وخت عزي عجي کولي. په ظاهر کښې د دهٔ
زړهٔ رحم نه کیدهٔ لیکن دلباریان ئي پوهٔ وُو چه دا رحم معافي
نهٔ شي ورکولي هغوئ د کامران ضدي طبیعت نه خبر وُو
هغوئ پوهیدل چه که کامران معاف شهٔ نو یوه ورځ به
ئي ضرور په همایون لاس بر شي. څکه هغوئ همایون ته
عرضي ورکړه او په هغي کښې ئي د کامران ټوله عملنامه
ورته بیان کړه. او دا درخواست ئي ورکړ چه که په ملک
کښې امن امان غواړي نو د بادشاه دا فرض دي چه کامران
ته سنګینه سزا ورکړي. همایون اوس هم کامران مړ کاوهٔ نه
لیکن چه دا ورته معلومه شوه چه د کامران له باغي کیدو نه
باتي کول پکار دي نو څکه ئي حکم وکړ چه د دهٔ په سترګو
کښې سلایان هم وکرزوئ. دا حکم پوره شهٔ. کامران له
همایون نه مکي معظمي ته د تلو اجازت وغوښت او چه دهٔ
اجازت واخست نو له هندوستان نه ئي هجرت وکړ او یو
څو کاله پس هم په مکه معظمه کښې مړ شهٔ.

دا فیصله ګرانه دهٔ چه همایون ته د ورور سره څه
سلوک پکار وهٔ قیدول خو ئي عبث وُو څکه چه په دې
وخت کښې چه بادشاه تش یو لوي سردار ګڼلې شهٔ د
داسې قیدې له قید خاني نه یو نه یو وخت تښتیدهٔ آسان

وُو. په ملک کښې دننه دننه داسې قلا نهٔ وَه چه دَې ئې هندې ساتلې وَې. دَ سپینت هلینا غوندې جزیره خو همایُون سره نهٔ وَه چه کامران ئې په کښې حوشبې کړې وَې. او معاف کرې خو ئې څو ځله وهٔ خو دې نه څهٔ فایده نهٔ وَه خسلې که دا پیره ئې هم بخښلې وَې نو بیا به یو حل دَ جنګونو بازار تود شوې وهٔ. په یورپ کښ دې ورځو کښ بلکه دې نه پس هم که چا دَ کامران په شان سر پورته کړې وَې نو یاغې کړې به ئې وهٔ او وژلې به ئې وهٔ. پس دې خبرو ته چه رهٔ کورم نو ویلې شم چه همایُون چه ورور ته کومه سزا ورکړه دا انصاف ته نزدې وَه.

کامران ډیر قابل سرې وهٔ. هغهٔ دَ خپلې زمانې شاعرې نه تش خبر قدر نهٔ وهٔ بلکه پخپله ئې هم ښه شعر کاوهٔ او پوُره عالم وهٔ. هر کله چه دَ سلطان حسین دَ لوُر غوندې ښځې دې په نکاح، او دهٔ سره ناستې قبول کړې وهٔ نو دې نه معلومیږې چه دَې ضرور ښهٔ قابل وهٔ. په دهٔ کښ عیبوُنه دا وُو. اول بې اندازې حرصې وهٔ چه کله کله به له حرت ورواوړید. دویم بې ځایې غرور. دریم وهم چه قدرتې طور دَ دهٔ په طبیعت کښ وهٔ. او دَ حکومت په ورځو کښ به زیاتیدهٔ. دا داسې عیبونه وُو چه دَ هغه زمانې دَ بادشاهې تبر دَ خلقو ژوند تر نه خلاص نهٔ وهٔ.

دَ كامران په لري كيدو همايُون ته دا وخت په لاس ورغئ چه دَ هندوستان دَ اخستو بخوانئ خيال پُوره كړي-دا وخت دَي دَ كشمير په سرحد بانډِ پروت وهٔ-دَ دي صوبي حاكم سلطان حيدر ورنبي هم دَي راغوښتي وهٔ او اوس يُ بيا هم ورته ليكلي وُو چه كه چري همايُون كشمير ته راشي نو دَي به سم شهنشاه ومنلئ شي دَ همايُون دا ډير شوق وهٔ چه دَ سلطان حيدر درخواست منظور كړم ليكن دَ دهٔ سپه سالاران په دوه وجهي كشمير ته تللو بانډِ راضِي نهٔ وُو. يوه وجه خو ښته وَه او هغه دا وَه چه دَ دويُ آل عيال په كابل كښ پروت وهٔ- بله وجه چه هغوئ ښكاره كړه دا وَه چه كه مونږ كشمير ته لاړ شُو نو سليم شاه مو به بيا وايس كيدو ته پري نهٔ ږدي- همايُون خو غان تكړه كړ او حكم يُ وكړ چه فوج دِ دَ عباس په دره كشمير ته روانيږي ليكن بله ورځ يُ چه دا كار ولېد نو افسوس يُ وكړ چه ډير فوج كابل ته روان دَي شي - همايُون څه ډير الباش وكړ ليكن تاثير وُ نهٔ شهٔ له ناچارئ نه دَي هم هغو پسي روان شهٔ او سره دَ فوخ پيښور ته راورسيد- دلته يوه نوي نمونه قلا جوړولو بانډِ يُ څه مُده تيره شوه- دا ښهر چه دهٔ دَ غزونو دَ خلقو مارو، دارو نه په امن كړ نو په هندوستان بانډِ فوخ وراچولو ديار يُ خيل ورنبي پراو مقرر كړ دَ سنه ۹۵۵ هـ په آخر كښ كابل

ته واپس شهٔ.

اګر که د فوځ افسرانو په جمع همایون د کشمیر له سفر نه منع کړ لیکن هغه تجویزونه چه له اندراب نه کابل ته د راتلو په وخت په ۹۵۸ه کښ شوي وُو تر اوس پوري په نظر کښ وُو ځکه چه د دي تجویزونو د خاوند حاجي محمد سر په توره بیل شوي وهٔ. د همایون ورور هندال چه دا تجویزونه يُ ډیر خوښ وُو په جنګ کښ مړ شوي وهٔ او د کومو خلقو له ویري نه چه د دي تجویزونو فکر شوي وهٔ. یعني قراچه خان او کامران هغوئ هم نهٔ وُو ځني نور سرداران او خیلوان چه څه سرهٔ يُ لړل ټول فنا شوي وُو. د همایون اوس څوک دښمن نهٔ وهٔ چه دي يُ تنګ کړي وي. نن پرون په وزیري باندِ يو بدخشاني چه نوم يُ بیرام خان وهٔ مقرر وهٔ. چه د دهٔ د لیاقت بیان مونږ لیکلیٔ دي. دا سړي اول نمبر قابل، د لوي زړهٔ خاوند او په حکومت ډیر مٔین وهٔ. وائي چه هم دهٔ په څه چل حاجي محمد مړ کړي وهٔ. او چه اوس اوس يُ وزیري مونډلي وه نو بس د بادشاه په حکم چلیدهٔ. په دهٔ کښ هغه د بادشاهي حکومت زړهٔ ورتوب چه بیا ورستو په کښ راځئ لا نهٔ وهٔ راغلئ.

همایون چه د کابل له کنډیرو نه خلاص شهٔ نو د هندوستان د اخستو نیت يُ وکړ. قسمت يُ ډیر

زور زور شه - دَ دهٔ دَ بادشاهۍ لاندې کوتکي دَ شیرشاه زوی سلیم شاه مړ شوی وُ دَ دهٔ په مرګ هندوستان کښې اړي ګړي وُه - دې کښې شک نشته چه دَ سلیم شاه زوی فیروزخان خلقو دَ پلار په تخت کښینولی وُ خو دري ورځې بادشاهي یې کړي وَه چه خپل ماما دَي مړ کړ او پخپله په تخت کښیناست - دا سړی ډیر ناقابل وُ دَ دهٔ په کښیناستو ملک کښې ډیر غَایه شور شر پورته شهٔ چه دَ هغو ټولو دَ بیانولو دیاره ځای نشته - تش دومره وینا ډیره دَه چه په ۱۵۵۵ء کښې دَ تخت پنځهٔ کسَ دعویدار موجود وُو او دا ټول دَ سُور له ټبر وُو - دَ دوئ نومونه دا دي محمد شاه چه دَ سلیم شاه زوی یې وژلی وُه - او بهار جونپور او دَ ګنګا دَ سیند نوَر پریواتهٔ علاقې نه یې ډیره حصه لاندې کړي وَه - دَ دهٔ اوښي ابراهیم سور چه آګره او ډیلي باندې قبضه کولو نه پس دَ سکندر شاه له لاس یې وهل خوړلي وُو - هغه سکندرشاه چه نن پرون په ډیلي آګرې باندې یې قبضه وَه - احمد خان سور چه په پنجاب پروت وُ - شجاع په مالوه باندې حاکم وُه - دَ دوئ نه غیر یو بل دعویدار هم وُ چه دَ هغهٔ دوئ سره ځه خپلوي نهٔ وَه دَ دي سړي نوم تاج خان کراني وُ چه په بنګال باندې یې دَ حملې ویرې تیرولې - دَ هندوستان په اړي ګړي همیشه کابل ګټه کړي دَه همایون هم په دې موقعه کوشش وکړ - هغهٔ په ډیره مشکله ښځلس زرَ سړي راجمع کړل - دې فوځ سره دَ

جلال آباد او خیبر په لاره پېښور ته راغئ. دي وخت کښې (دسمبر ۱۵۵۴ع) اکبر دَ دولسو کالو په عمر کښې ورسره وَۀ. دَ کابل بادشاهي يې دَ بیرام خان زوي منعم خان ته پرېښي وَه. بله ورځ فوځ اباسینډ ته کوچ وکړ او چه سینډ نه پوري وتل نو بیرام خان يې دَ فوځونو سپه سالار کړ.

همایون په دَو لاهور ته راغيَ او بې جګړې يې په ښهر قبضه وکړه. دلته يې بیا فوځ سر دوباره جوړ کړ او نوَي فوځ يې بهرتي کړ. بیا يې بیرام دَ ستلج سیند ځ ته ولیږۀ. په دي مُده کښې سکندر شاه سوري چه دَ همایون په راتلو خبر شۀ نو دَ فوځ جمع کولو ښه خواري يې وکړه او دَ دښمن دَ فوځ جوړولو نه ورنښې يې خپل دوه جرنیلان دَ څلویښت زرو سوَرو سره ستلج ته راروان کړل او دواړه دَ ستلج سیند پورې پواته غاړه باندې ماچهي واړ کښې بیرام خان سره مخامخ شول دېر دَ لړې بړې جنګ وشۀ. دا هغه زورَور جنګ وۀ چه په دي دا فیصله کېدونکې وَه چه آيا په هندوستان به هغه مغل بادشاهان کېږي کومو چه په افغانستان کښې حکومت قایم کړي دَي. یا به هغه پښتانۀ بادشاهان کېږي چه ډیلي ته راغلي دِي او آباد شوي دِي. دَ دواړو ډډو سرداران دَ زړۀ له اخلاص وجنګیدل دَ هندوستان دَ بي شمیره فوځ یرک درُوند شکاریدۀ. لیکن بیرام خان پجیله یو آفت وۀ او آخر هم هغۀ وګټله. دا ماتي څکه پوره ماتي وَه چه دواړو

پرو له یو سخت جنګ نه پس د جګړو فیصله کړي وه. فاتحانو ته هاتیان، آسونه او ډیر سامان لاس ته ورغی. بیرام فراریانو پسي څه فوځ ولیږه او ځینې ماڅیي وار کښې همایون ته کښیناست.

د همایون دا د ځنکښ تلو وخت وه څکه چه سکندرشاه او زر فوځ راخستي وه د خپلو جرنیلانو بدل اخستو دپاره راتله. بیرام همایون ته سرې په سرې ورولیږه چه ډیر تُند ځنکښ څه. او په دي مُده کښې تر سرهند پورې په ځنکښ لاړ. دي دپاره چه د دښمن په راتلو کښې څومره ډیل وشي هغمره ښه ده. آخر همایون هم بیرام سره یوځاي شه. او دوه ورځي پس په ۱۸ جون ۱۵۵۵ ع سکندرشاه هم میدان ته رادرسید. همایون هم مقابله وکړه. د جنګ دوري وختي همایون ګټه وکړه.

په دي ګټه دي د هندوستان د تخت مالک شه. دي کښې شک نشته چه لا د څنو صوبو اخستل او امن قایمول باقي دُو لیکن د هندوستان د بادشاهۍ فیصله په دي جنګ شوي وه. د سرهند جنګ کابل او د هغې کیرچاپیر علاقه د ډیلي د مغل بادشاه یوه صوبه کړه. د دومره لوسي بادشاهۍ انتظام کول ګران وُو. منعم‌خان په رښتیا د کابل ښه انتظام کړي وه او تر اوسه پورې په یارانه ولاړ وه. لیکن د بدخشان چالاک حاکم مرزا سلیمان چه هغه د همایون

دپاره کامران سره جنګونه کړي وُو - خوداختیار شهٔ - همایُون چه پرِ خبر شهٔ نو دَ دهٔ دَ علاج فکر کښې شهٔ او دَ خپلي بادشاهيَ دَ هري صوبي انتظام دپاره يې ډير ښهٔ ښهٔ تجویزونه وکړل خو په هغو يې عمل نصیب نهٔ شهٔ - ځکه چه مړ شهٔ - دَ دهٔ مرګ ناڅاپه پیښ شهٔ یوه ورځ ماښام وخت کښې چرته پورو ښه راکوزیدهٔ له بدي ورځي يې پښه لس کښې ښیه ونښته او دَ سنګِ مرمرو په ښیهنه پوړيَ باندِ ونښویدهٔ راوُرغړید - او سر دَ لاندِ ښکته پریوت - څلور ورځي بیهوښه وهٔ آخر په ۲۴ جنوري سنهٔ ۱۵۵۶ء دَ ۴۸ کالو په عمر دَ کامران له رندیدو نه دوه نیم کالَ او دَ کامران له مرګ نه ۲۱ میاشتي پس دهٔ هم له دنیا نه کډه په سر کړه -

دَ همایُون او دَ کامران دَ زماني تاریخ تش دَ هغو چلونو ولوُنو چه یو دَ بل پښ ویستو دپاره کړي وُو، او دَ کورنو جنګونو او دَ بي اتفاقيَ، او دَ تکيَ او دَ بیرحميَ یادداشت دَي - دَ پښتنو خپل ذکر دَ دويُ په تاریخونو کښې ډیر کم دَي - دَ دويُ تش دومره قدر ذکر شته چه دويُ دَ ملک غرځهٔ، بي تهذیبَ او دَ ملک اصلي اوسیدونکي دِي - بهادران، سخت او دَ جهل په وجه وران کارِي دِي -

دَ دي دوارو بادشاهانو دَ زماني تاریخ دَ پښتنو تاریخ نَهٔ دَي بلکه په افغانستان کښې دَ مغلو دَ بادشاهيَ تاریخ دي - او نهٔ دا تاریخ دَ افغانستان خپل تاریخ دَي - لکه چه څنګه دَ غنُور دَ

بادشاهانو هندوستان ته تلو په افغانستان باندِ دَ بل تام بادشاهي راوستي وَه دَعنسي دَ مغلو بادشاهانو تلو هم اصيلو پښتنو تبرو ته دَ دويُ په خپل کانړيز ملک باندِ دَ بادشاهيُ موقعه ورکړه-

# شپږم باب (۶)

## (دَ مغلو او دَ پښتنو پنجه)

له همايوُن نه پس دَ دهٔ زوي اکبر په تخت کښيناست. دا ناسته يُ په داسي تخت وَه چه دَ دي نور هم دعوکير وُو. يو طرف خو هيمو بقال دَ سُور دَ تبر له طرف نه جنګيدهٔ. بل طرف نه سکندر سُور دَ بادشاهيُ دپاره جنګ کاوهٔ اکبر اکرکهِ دَ ديارلسو کالو هلک وُ ليکن هغهٔ خپل هُښيار توب ښکاره کړي وُ-او بل دَ بدخشان بيرامخان غوندِ جرنيل چه په خپله زمانه کښ يو بيمثلَ سپه سالار وُ دَ دهٔ په خدمت کښ حاضر وُ-دي موقعه باندِ دي سپه سالار خپله بهادرِي او همت وښيهٔ. دهٔ سکندر له پنجاب نه وکښهٔ او خله لږ غوندِ فوځ باندِ يُ دَ هيمو سره مقابله وکړه- دَ پاني پت په ميدان کښ جنګ وشهٔ او دَ يوي زورورِي جګړي نه پس هيمو شکست وخوړ- دي مشهور ميدان بيا دَ هندوستان

دَ قسمت قطعي فیصله وکړه.

کابل لا دَ اکبر دَ کشر ورور شهزاده محمد حکیم اُستاد منعم خان سره وُه. محمد حکیم دَ دري کالو وُه. رو رو دَ ملک بادشاهي دَ هغهٔ مور خپل لاس کښې کړه. دَ دي نوم ماه چوچک بیګم وُه او ډیره قابله ښځه وَه دَ دي دَ قابلتوب آزمیښت زر کیدونکی وُه.

دَ همایون دَ مرګ خبر لا دَ قطب صوبو ته نهٔ وُه رسیدلي چه دَ بدخشان مرزا سلیمان په هندوکش راواوړید په کابل يې قبضه وکړه. هم دغه وخت دَ ایران طهماسپ بادشاه قندهار لاندِ کړ. او حکومت يې خپل وراره سلطان حسین مرزا ته ورکړ. دا ښهر تر سنه ۱۶۰۳ء پوري ایرانیانو سره وُه. لیکن بدخشانی مرزا ډیري ورځي په کابل کښې پاتي نهٔ شهٔ. غالبًا دهٔ به دا خیال کړي وِي چه په پوره صوبه باندِ چه دَ دي لار په افغانستان تیره شوي وِي حکومت قایمول له دي نه ښهٔ دي چه په دوهٔ صوبو باندِ بادشاهي وکړِي چه په مینځ کښې يې یو لوي غر وِي او پوره په کښې دَ هندوستان دَ بادشاهئ په سرحد باندِ پرته وَه. بیا هم په دي کښې شک نشته چه لږه مُده کښې يې کابل پرېښو بدخشان ته واپس لاړ او له دي نه پس اتهٔ یا لس کال پوري يې دَ چوچک بیګم سره چه په اصل کښې يې په کابل باندِ دَ یو ایجنټ په طور بادشاهي کوله روغه وَه.

دَ اکبر کارونو سره دا تاریخ تش ترهغې تعلق لرې ترکومې چه دَ هغو اثر په کابل او دَ دې په علاقو پرېوته.- دَ اکبر دَ بادشاهۍ په اول اول کښې اکبر هسې په نوم دَ افغانستان بادشاه وهٔ. او دَ ستلج دَ سهیل علاقو او دَ راجپوتانې دَ راجګانو په جګړو کښې داسې نښتې وهٔ چه دَ کابل فکر کولو ته وزګار نهٔ شهٔ.

دَ همایون له مرګ څلور کاله پس یو داسې کار وشهٔ چه څومره دا پورته بیان ئې رښتیا کړې. او هغه دا وهٔ چه مرزا سلیمان کابل ته لاړ او چوچک بېګم ته اګرکه هغې په ملک ډېره دبدبه پیدا کړې وه دَ وزیرانو له طرفه ډېر تکلیف ورسید.- منعم خان څو هغه وخت چه دَ هغهٔ پلار بیرم خان وو ت او کابل ئې پرېښو راغې.- دَ هغهٔ زوې چه دلته پاتې شوې وهٔ څه قابل نهٔ وه.- دَ سازشونو او دَ داردادتونو په ښهر کښې زور وهٔ.- بېګم دَ فسادې سردارانو په وجه په خپله دبدبه کښې ناامیده غوندې شوه.- په دې کښې یو داسې سړې راپیدا شهٔ چه جوړ بېګم وړوکې لوې کړې وه.- دا یو زبردست سردار میرابوالمعالي وهٔ چه اکبر سره ئې ورانې راغلې وه او بیا تښتېدلې وهٔ.- ابوالمعالي دَ همایون په زمانه کښې یو جرنیل وهٔ او دَ سرهند فتح کېدو نه پس ئې دَ پنجاب صوبه‌دار کړې وهٔ.- ابوالمعالي دَ بیرام خان دوست وهٔ چه بیرام خان دَ خپلې عهدې نه پرېوت نو دې ئې هم له پنجاب نه وویست. چه

دلته نه ووت نو دي ج ته لاړ او چه واپس راغئ نو د نوره پرپوانه د هندوستان صوبي ياغي شوي وي نو دي هم په دوي کښ ننوت. او بادشاهي فوځ ته ئي چه د حسين قليخان د لاندې د ياغيانو سمولو دپاره راغلي وه له ځانسئ نه شپږ اتيا ميله سهيل ته په نارنول شکست ورکړ او بادشاهي علاقو کښ ننوادور لاړ. ليکن د اکبر يو بل فوځ ده سره مقابله وکړه او شکست ئي ورکړ نو دي وتښتيد. چه پنجاب ته راغئ نو دلته ئي هم د سر سوري پيدا نه شه. بيا له بدي ورځي جوچک بېګم ته راغئ او دي سره نوکر شه.

کابل چه هسي په نوم آزاد وه د دي يو ثبوت دا هم دي چه بېګم في الحال يو داسي سړي نوکر کړ چه په تيښته راغلي وه او د دي د زړي ورور نه ياغي شوي وه. اصل کښ دغه د دي د مطلب سړي وه ځکه چه دي داسي سړي وه چه په نمک حلالئ سره ئي د دي په فساديانو دربارياتو دبدبه کښينوله. بېګم خپله لور فخرالنساء هغه ته ورکړه او دي ئي لوي وزير کړ. ابوالمعالي هم وزير وه هم زوم. د ټولو دربارياتو ئي دم ووسيت فساد بند شه او په ټول ملک کښ يو حکم چليده. څه مدي پوري خو د بېګم يقين وه چه دا حکم ځما دي. او ابوالمعالي تش کار کوي، ليکن رو رو ورته دا معلومه شوه چه په اصل کښ چه څه کوي ابوالمعالي کوي فساديانو سردارانو چه کوم مطلب دپاره عبث کوشش کړي وه

هغه مطلب دَ ابوالمعالي رښتيا سر شهٔ- دي ته دا هم معلومه شوه چه دي سړِي دَ خپلو پره‌دارو يو داسي ټولي پيدا کړي دَي چه دَ دهٔ په ځاي هر وخت مرګ ته تيار دي څه وخت چه دا خبري معلومي شوي نو بيګم هغه وخت دَ دي برخلاف کوشش راواخست خو اوس اوبهٔ له ورځَ تيري دي- بيا هم څه نه څه زور يي لاړهٔ او ابوالمعالي چه دَ هغهٔ په خپل ټولِي بانډِ باوَر وهٔ دَ خپلي ترقيَ لار صفا کولو دپاره يي په سنه ۱۵۶۳ کښ ووژله-

چه بيګم له مينځَ ووته نو ابوالمعالي دَ محمد حکيم مرزا دَ اَوښِيِ تَوب په وجه يو دم دَ بادشاه نايب جوړ شهٔ- په کابل کښ خو دَ دهٔ بادشاهي ومنلي شوه خو په بدخشان کښ وُ نهٔ منلي شوه- دَ بدخشان حاکم مرزا سليمان دي سره پس هر څه چه وکړل هغو نه معلوميږي چه هغهٔ هم دَ ملک دَ اخستو دپارهٔ کړي وُو- هغه پخپله دَ کابل بادشاهيَ ته پخسيدهٔ- دَ کابل نابالغ شهزاده بس دَ دولسو کالو کچه خولهٔ هلک وهٔ- که چري چوچک بيګم په کابل باندِ بادشاهي کوليَ نو سليمان هيڅ نهٔ وِ- ځکه چه دَ دهٔ دَ بيګم سره مضبوط تعلقات پيدا شوي وُو ليکن اوس چه دهٔ وکتل چه يو معمولي چالاک سردار دَ کابل په بادشاهيَ ناګمانه قبضه وکړه او دَ ماشوم بادشاه خور يي واده کړه خپله دعوي يي مضبوطه کړي دَه نو هغهٔ ته ډيره ناروا ښکاره شوه او دي سړي دَ

کابل له تخت دَ دهٔ دَ کوزولو ذمه واخسته.

سلیمان في الحال په کابل راوغوت او څه جنګ جګړي نه پس يُ په کابل قبضه وکړه- او ابوالمعالي بادشاه يُ ووازهٔ- بیا يُ خپله لور شهزاده محمدحکیم ته واده کړه او یو بدخشاني سردار يُ دَ دهٔ وزیر کړ نو بدخشان ته راغئ- محمدحکیم چه لوي شهٔ نو دَ بدخشاني سردار وزیري يُ خوښه نهٔ شوه ځکه يُ په سنه ۱۵۶۴ع کښ موقوف کړ- سلیمان چه په دي خبر شهٔ نو دَ محمدحکیم زوري دپاره کابل ته راروان شهٔ- محمدحکیم کښ چه دَ جګړي طاقت نهٔ وهٔ نو اباسیند پلو وتښتېده او له خپل ورور اکبر بادشاه نه يُ مدد وغوښت- اکبر له دي ویري چه سلیمان دَ کابل له قبضي نه پس چرته دَ هندوستان خیال وُ نهٔ کړي دَ ملتان حاکم محمدقلي خان ته دَ محمدحکیم دَ مدد دپاره حکم ولیږهٔ- لیکن دَ دي حکم له رسیدو نه ورمبي سلیمان په کابل قبضه کړي وَه او جلال آباد ته رارون شوي وهٔ- هغه وخت محمدحکیم ته دَ اکبر هغه فوځ چه دَ فریدون خان افغان دَ لاندِ يُ دَ دهٔ مدد دپاره لیږلئ وهٔ ورسید-

فریدون خان لکه چه موزخ بیان کړي دي دَ ماه‌چوچک بیګم ورور وهٔ او دَ محمدحکیم ماما کیدهٔ- فریدون خان چه ولیدل چه دَ افغانستان ټول ښهرونه ځما دَ خوریي له لاسَ وتي دِي او په دي لږ فوځ بانِد ملک واپس نهٔ شم اخستئ نو محمدحکیم سره يُ داپټ مصلحت وکړ چه کوم کار کیدونکئ

دَي هغه ولي نهٔ کوي. ستا ورور نن پرون دَ بهار په لوي
جنګ کښې ښتي دَي هغهٔ سره دومره فوځ نشته چه ستا مقابلې
دپاره راولیږي۔ زهٔ تا سره یم اول به پنجاب قبضه وکړو او بیا
کابل ته مخه کړو۔

محمدحکیم دَ ماما خبره خوښه کړه او نیغ لاهور سته
راروان شهٔ. لیکن دَ دوئ دَ دي مصلحت خبر ورښې کړزیدلې
وهٔ. او دَ لاهور حاکم دَ بادشاه له طرفَ دَ ښهر دَ ساتنې
بنهٔ بندوبست کړي وهٔ. رو رو دَ محمدحکیم دَ راختو خبر
اکبر ته هم ورسیده. هغهٔ اوس یو جنګ ګټلې وهٔ آګري ته
راغلي وهٔ. دَ دي خبر په رسیدو في الحال پنجاب ته راروان
شهٔ. دَ محمدحکیم دغلته قسمت ښهٔ وهٔ چه اکبر لا په ستلج نهٔ وهٔ
راپوریوتي چه دَي ئي له راتلو نه خبر شهٔ. او بیا یوه داسې
واقعه وشوه چه له داسې نهٔ وَي شوي نو په ظاهره دَ
محمدحکیم بچ کیدل ګران ؤ. محمدحکیم چه دَ ورور له راتلو
نه خبر شهٔ نو في الحال له لاهور نه واپس شهٔ او خپلي
رسالي سره داسې تُند کابل ته لاړ چه هلته ئي دَ رسیدو
سره په ښهر قبضه وکړه. او یو عوږ بل عوږ پرِ خبر نهٔ شهٔ.
دي ورځو کښې مرزا سلیمان بیګ شوي وهٔ چه بوس دَ چا
دَ حملي ویره نشته بدخشان ته تلي وهٔ. دَ اکبر دَ راتلو
خبر دغسې محمدحکیم ته دَ بادشاهۍ ورکولو سبب شه. او په
پنجاب باندِ دَ حملي کولو ګناه هم اکبر معافه کړه۔

دي واقعې نه پس لسو کالو پورې محمد حکیم په آرام بادشاهي کوله او که دغه سي يې په خپله صوبه صبر کړې وَي نو عمر به يې په ميړتون شوَي نهٔ وهٔ - ليکن کومو ورځو کښې چه دَ بنګال او بهار پښتانهٔ اکبر ته راپوځت شول نو دَ دهٔ مغزو کښې هم دا خبره وګرزیده چه په دي موقعه دَي هم سپه پنجاب خپل قسمت وګوري. دا ورته معلومه وه چه دلته دَ اکبر ډیر لږ فوځ دَ بهګوانداس راجه زوي راجه مان سنګه لاندِ موجود دَي - ډیر فوځ يې خان سره واخست او په اباسينډ پورېوت. دَ دهٔ لا تش يو څو کسَ سپاهيان په سيند نا بکِ پورېوتي وُو چه په دي کښې پرِ دَ مانَ سنګه فوځ راوڅونبیدهٔ او دَ دويُ يې پوتښې دالُوزَوهٔ - ليکن دَ مانَ سنګه په فوځ کښې دومره طاقت نهٔ وهٔ چه دَ محمد حکيم دَ ټول فوځ مقابله يې کړې وَي په ناعلاجيُ دَ رهتاس قلعې پورې چه دَ جهلم په سيند پرته وَه واپس شهٔ او دا قلا يې په څوکو بنه مضبوطه کړهِ نو لاهور ته لاړِ دي دپارهِ چه څو پورې اکبر دَ دهٔ مدد ته را نهٔ شي دا ښهر له دښمن نه وساتي - محمد حکيم دَ رهتاس قلا پرېښوَه لاهور ته ورسيد او ښهر ته يې مخامخ ديرې ولګولې - ليکن اکبر هم دَ خپل لاهورِي سردار درخواستُونه وُ نهٔ غوږزَول - اګر که دَ بهار او بنګال په جګړو کښې نښتې وهٔ ليکن دهٔ دَ هغې څه پروا وُ نهٔ کړهِ او في الحال پنجاب ته راروان ښهٔ - دا پيرهِ هم چه محمد حکيم دَ ورور له

راتلو نه خبر شهٔ نو لټ کوټړيُ يُ اوچتي کړي او په پېښور يُ يوه وَرځ عونډ ځوکَيُ کښېښوله کابل ته لاړ دلته چه راورسيد نو دهٔ دَ ملک انتظام وکړ. فريدون خان يُ جنګ ته وليږهٔ او پځپله دَ کومک بندوبست کولو دپاره روستو پاتي شهٔ په دي مُدّه کښې مرزا سَليم (چه بيا جهانګير شهٔ) او مرزا مراد دَ اکبر دَ فوځ لويو ټولو سره لي سُوک خيبري په پېښور او په جلال آباد قبضه وکړه. سَليم خو جلال آباد کښې پاتي شهٔ ولي مراد کابل ته وروړاندِ شهٔ. دهٔ ډير لم عقلتوب وکړ لکه چه کابل نه ۳۰ ميل لري دَ خنترباغ دري ته ورسيد سنو فريدون خان راګير کړ او دَ دهٔ ټول اسباب يُ لوُټ کړ بيا هم دَ مراد ډير نقصان وُ نهٔ شهٔ ځکه چه يو ځو ورځي پس دَ راجه مان سنګه کومک راورسيد نو دَي محمد حکيم سره جګړي ته تيار شهٔ. دَ افغانستان په تاريخ کښې دا ورښئي ځل وهٔ چه دارُو په کښې وچليدل. "فرشته" کښې راوړي دِي. چه کنور مان سنګه او توزک خانِ انګه دَ خپلو چومکهِي توپو خولي دَ دښمن په فوځ ورخلاصي کړي او هسي وُچ په موجَ دَ مرزا حکيم يو افسر او دوه دري لور سرِي چه هغهٔ سره ولاړ وُو مړهٔ شول. چه دا يُ وليدل نو مرزا وارخطا وتښتيد او سرداران يُ دښمن ته په لاس ورغلل. بيا هيڅ جنګ وُ نهٔ شهٔ. محمد حکيم غورښند ته وتښتيد او هلته نه يُ ورور ته دَ معافيَ درخواست راوليږهٔ. اکبر دَ دهٔ ګناه معافه کړه خو

په دي شرط چه بیا به (له مارچ ۱۵۷۹ع نه) هغهٔ خپل خان ته دَ هندوستان صوبه وایُ.

دي نه پس پنځهٔ کالَ پوري په بدخشان کښی دَ مرزا سلیمان بادشاهيَ ماتولو دپاره کوششونه وشول. دا اکثر دَ مرزا او دَ هغهٔ دَ نمسي مرزا شاهرُخ دَ مخالفت په وجه سره وشُو. دَ سلیمان پس طبیعت دَ شاهرُخ سترګي غمجني کړي او یو څو کالَ يَ سَرهٔ جنګونه وکړل. کله به یوَ زورور شهٔ کله بل. آخر دَ بدخشان بادشاهي دومره کمزوري شوه چه اُزبکیانو لاس ور واچوهٔ او خپلي بادشاهيَ سره يَ وګنډله. شاهرُخ وتښتید دَ اکبر دلباریانو کښی ورګډ شهٔ. سلیمان مرزا کابل کښی خپل زُوم ته راغيَ. او دَ هغهٔ تر مرګهٔ هم هغلته وهٔ.

دَ سلیمان زُوم حکیم مرزا په ۱۵۸۵ع کښی مړ شهٔ. دَ هغهٔ دَ ژوند دَ آخرو اوهٔو کالو حال معلوم نهٔ دَي. سپه ظاهر کښی څو ښکاري چه دَ خپل ورور له طرف نه به نائب وهٔ. لیکن ماته دا معلومه نهٔ شوه چه په دي مُده کښی دَ پښتون رعیت څه حال وهٔ. لیکن چه دَي مړ شهٔ نو سیو څو میاشتي پس دَ هغهٔ دَرو قامونو چه له کابل نه سنده پلَو ته تلي دِي خپل قابلتوب ظاهر کړ.

چه حکیم مرزا مړ شهٔ نو اکبر راجه مان سنګه دَ کابل ګورنر کړ. راجه في الحال کابل ته راروان شهٔ. او دَ حکیم مرزا وارهٔ زامن کیقباد او افراسیاب يُ واخستل بیا اباسیند پلَو ته

لاړ او اکبر سره يُ ولیدل. دَ دهٔ زوي سیکت سنګه له دهٔ نه روستو دَ کابل انتظام کاوهٔ.

اکبر تر اوسَ پوري کشمیر اخستَي وهٔ او دَ هغه ځاي حاکم يُ خپل صوبه دار کړَي وهٔ لیکن اوس ورته له دي نه هم مشکل کار پروت وهٔ او هغه دا وهٔ چه دَ اباسیند په پورته ډډه غرَځَهَ قلمونه تابع کړِي چه دَ بَردُراڼي دَ تبر زیلي وي - او کوهستانیان، سواتیان، یوسف زَي او مهمند ورته ویلَي شول. دَ دويُ له حال نه نن پرون انګریزان له مغلو نه زیات خبر دِي -

په ایشیا کښې اکبر په هندوستان لوي بادشاه وهٔ - دهٔ هندوستان. پنجاب - کابل. او کشمیر فتح کړَي وهٔ - او هلته يُ امن قایم کړَي وهٔ. هغهٔ ته دَ خپلي زماني بهادر جرنیل هیمو او په ځان بیرام چه په جنګ کښې دَ هغهٔ استاد وهٔ میدان کښې نهٔ وُو اودریدلي. دَ میداني جنګ په شان دَ غرونو په جنګ کښې به هم میدان دَ دهٔ وهٔ. دا يُ په خیال کښې سنهٔ ګرزیده چه دَ دي درو غرځه پښتانهٔ به ما جر کړِي.

لیکن دا خلق دَ دي اوسنو بهادرانو پلاران وُو چه دويُ پله پسي دیرش کالَ په ځان خپلو وطنیانو سرهَ جنګ کړَي دَي او په هیڅ ضرره کښې يُ کمَي نهٔ دَي کړَي. چه هغويُ خبر شول چه اکبر خپلو په کارونو کښې رادانګي نو هغويُ پوخ نیت وکړ چه په خپله طریقه په خپلو غونډو

اکبر سره جنګ وکړي.

اکبر ورپسې لام په یوسفزو وتاړۀ چه د مهابن لــه کوهستان نه هغه ځوا د بنیر او چغرزو په غرونو کښې لو د هغو نه قطب ته علاقو کښې آباد وُو. د دې فوځ سپه کمان بانډ دۀ زین‌خان راولیږۀ معلومیږي چه اول ځۀ دې په کټه کښې وۀ. ابوالفضل لیکي چه "دې له پېښور نه قطب ته دمجبوس ضلعي ته راغئ او د یوسفزو غوبدونه ئې تاڼ کړل ځني سردارانو معافي هم وغوښته. بیا په چکدره کښې چه د دې ملک مېنځ‌ؤمان دې. قلا ئې جوړه کړه او دښمن ته ئې په ۲۳ جنګونو کښې شکست ورکړ. آخر کومک ئې طلبت شه او اکبر ورته څه فوځ د راجه بیربل او حکیم ابوالفتح ماتحت راولیږۀ" دې عبارت نه معلومیږي چه زین‌خان اګرکه کټه کوله لیکن یوسفزو په داسې زور د هغۀ مقابله وکړه چه آخر مدد راغوښتو نه ناچاره شۀ. بیربل او ابوالفتح به تر چکدان راورسیدلي وُو چه دلته دواړه جرنیلان ورانِ غونډ شول. بیربل دِ چه تهول به یوځل حمله کوو زین‌خان دِ چه نا دوه لاري نیسو. یو فوځ به په دښمن مخامخ حمله وکړي او بل به د شا د ددي یا له ارخ نه چرته په بله لار راغوته شي. آخر د بیربل په خبره امنا وشوه او دا فیصله وشوه چه په غرونو حمله وکړي او د دښمن په صفونو کښې ننیخ وُوزي د کراکار په لار راواپس شي. بیربل له تهولو نه

مخکښې شهٔ. حکیم ابوالفتح دَ مینځنۍ فوځ کمان واخست. او
زین خان دَ فوځ په ورستو پلو شهٔ. په یوه سخته او اوږده
دَره باندِ ورننوتل. بیا هم دَ بیربل په قابلتوب مابنام سنه
ورښې دَ غرهٔ یوې غُنډۍ ته ورسیدل. لیکن لا يې ساه
نهٔ وَه اخستې چه دَ فوځ په هراول او ښۍ او ګسه ډډه
باندِ پښتنو دَ غشو او دَ کاڼو باران جوړ کړ او داسې يې
پرِ وُوَرَول چه دَ مغلو وار خطا شهٔ او راوتښتېدل.
پښتنو ورپسې بېړې رالوړته کړې. بیربل ایله په خوارو دَ
دَرې په لمنه کښې سر په سورِې کړ او دَ فوځ دوه درې
برخې يې دښمن نه وُدرَول چه هغو په مشکله پښتانهٔ
واپس کړل.

دَ شپې او بیا صبا ته یوسفزو برابر دَ مغلو په فوځ
حملې کولې او ډېر لوی نقصان يې ورته وُرساوهٔ. بلې شپې
ته جرنیلان راجمع شول او یوه جرګه يې وکړه. زین خان وُوِ
چه واپس تلل بکار دِي. لیکن بیربل داسې خبرې نهٔ اورېدې
دَ هغهٔ خیال وهٔ چه پښتانهٔ یو بل چپاوُ دَ شپې کوِي.
نو بې مصلحت يې په خیل نخ سَر په یوه داسې دره خپل
فوځ ننیست چه دهٔ وِ ګڼې دښمن به دا خوشې پرېښې
دِي. لیکن یوسفزو دلته دَ هغهٔ دباره دَ ورښې سنه
بندوبست کړې وهٔ او پرِ راوخوځیدل او دَ وینو لښتې
يې وبهول. بدایون لیکلي دي چه ۸۰۰۰ لا دي نه هم

زیات سپاهیان مړهٔ شول. په ځان بیربل هم په کښې سر ورکړ. یو څو مشهور سرداران نور هم په کښې مړهٔ شول. لیکن دا مورخ لیکي چه بادشاه له تولو نه زیات دَ بیربل په مرګ زهیر شهٔ.

په دې ساعت کښې پښتنو په ابوالفتح او زین خان باندې هم زورَ دره حمله وکړه. زین خان سخر صباحی بلندئ پوري راواپس شهٔ لیکن دښمن هغنې ورپسې وهٔ. توله ورځ دا جرنیل سره دَ مشکلونو دَ خپلو سپاهیانو په راجمع کولو کښې لګیا وهٔ. چه شپه شوه نو دې ګنګوسې چه پښتانهٔ بیا راځي دَ دهٔ په فوځ کښې اړي ګړي جوړ کړ. تول فوځ تار په تار شهٔ او پښتنو په وینو بیولو خوا یخه کړه. زین خان او ابوالفتح یوڅو پیادهٔ سره په توبو توبو ایله تر اتک راغلل او دَ اکبر په کیمپ کښې چه دلته پروت وهٔ حاضر شول.

اکبر ورپسې دا کار وکړ چه راجه تودرمل او راجه مان سنګه ته يې څه فوځ ورکړ دَ اباسیند په بره ډډه يې ولیږل چه یوسف زیي تر میدان ته راکوز نهٔ شي. تودرمل چه دا مطلب وکړ او ځای په ځای يې روونه مضبوط کړل نو مان سنګه يې کابل ته ولیږهٔ چه هغه حکومت سنبال کړي. او چه دَ اکبر فوځ په یوسفزو باندې له نورَ حاتهٔ ډډې حمله وکړي نو دَې به له نورَ پریواته مخې نه پرې رایرېوزي راجه مان سنګه له خیرَ کابل ته ورسید او دَ خپل

بادشاه په حکم يي عمل راواخست- لیکن دَ دهٔ هلته دَ رسید و نه ورښي اکبر یو بل نوخ دَ هغه مهمندو او غوریانو په لام لیږلي وهٔ چه ځا دَ خیل سردار جلال الدین روشاني دَ لاندِ دَ پیښور کنده کښې ماري داري کولي. زین خان اکر که څه لویه کټه نهٔ وه کړي خو بیا يي هم دومره کړي وُو چه پښتانهٔ يي عزونو ته شړلي وُو- مخي کال ته راجه مان سنګه هم په دي قامونو حمله وکړه او دَ زین خان هغه کار يي نور هم مضبوط کړ. یعني پښتانهٔ يي نور هم په ښهٔ شان عزونو ته ورننیستل- لیکن دَ اکبر سختو ښځیله دا خلق تل جنګونو ته تیاروَل-

چه اکبر بادشاه دويي په زور عزونو ته ننیستل او باهر میدان ته يي نهٔ پرښول نو له ناعلاجي ورځي يي په مارو دارو ګذاره کوله- څوارلس کالَ دي خلقو دغه شان په شُوکو مُوکو ساعت تیراوهٔ- آخر چه مهمندو په غزني حمله وکړه او کټه يي وکړه نو بوه نوي لوبه لاس ته ورغله. دا رښتیا دِي چه اکبر خو دا قامونه له میدان نه ویستلي وُو لیکن دويي يي طاعت نهٔ وهٔ منلي- اصل کښې دا خبره همدغه سي ده چه له بابا آدمَ تر دي دمَ دا قامونه دَ کابل یا دَ پنجاب له بادشاهو نه آزاد دِي- دويي په خان دَ نادرشاه طاعت هم نهٔ دَي منلي-

اوس واوري چه دَ سنهٔ ۱۵۸۶ په آخر کښې مان سنګه

دَ کابل حاکم مقرر شوَي وَهٔ. دا ورښې هندُو وهٔ چه
يو خالص دَ مسلمانانو دَ ملک حکومت ورکړي شوَي دهٔ.
دَ دي نتيجه په انتظامي کارونو کښې ښه وُ نهٔ ختله. کابليان
کله منلُ وُو چه دَ ملک ټولي عهدي دَ بيګانهٔ وُ (راجپوتو)
په لاس دِي او دَ دوئي څوک تپوس هم نهٔ کوِي. دا رښتيا
دِي چه دَ دوئي کِلي په ځاي وي ليکن دي کښې هم شک
نشته چه دَ مان سنګه کار بد نهٔ وهٔ، هغهٔ ته دا يکار وُو چه
دَ راجپوتو په بهرتئ خپلي متي مضبوطي کړِي او بل دا
چه په بي هنرَ پښتنو ملک نهٔ شهٔ سنباليدَي. کابليان دَ
توري په کار کښې خو قابل وُو ليکن دَ قلم قابلتوب په کښې
نهٔ وهٔ. له ناچاري ورځي مان سنګه دَ خپل تام سرِي سائل-
بيا هم دا کِلي دومرهٔ ډيري شوي چه اکبر هغه له
کابل ته راوغوښت او دَ هغهٔ په ځاي ئي سنه ۱۵۸۵ئه کښې
خپل دَ ټي ورور زين خان وليږهٔ. معلوميږِي چه په
دي حکومت پرله پسي ډاسي ځو صوبيداران وليږلئ شول.
دَ زين خان ورښي کار چه دَ يادولو قابل دَي دا دَي
چه هغهٔ پرله پسي په پښتنو قامونو حملي وکړي. او خه کته
ئي هم وکړهٔ. دَ هغهٔ په زمانه کښې اکبر بادشاه هم کابل
ته راغلئ وهٔ او دوه مياشتي دلته وهٔ او بيا ئي دَ
زين خان په ځاي محمد قاسم مقرر کړ نو وابس لاړ.
په سنه ۹۹۴ئه کښې دَ هغهٔ په ځاي يو ساهو ايراني قليچ خان

مقرر شهٔ هغهٔ دري کالَ حکومت وکړ او تش دومره ده چه
دَ هغهٔ انتظام ښهٔ نهٔ وهٔ. ځکه په ۱۵۹۰ئ کښې بیا زین‌خان دَ
کابل حاکم شهٔ. دَ دهٔ په زمانه کښې مهمندو دَ خپل سردار
جلال‌الدین روشاني دَ لاسهٔ په غزني باندې حمله وکړه - دا
ځل زین‌خان لوي همت وکړ. بو ځل يې جلال‌الدین له
خپلي علاقې نه وویست او چه بیا جلال‌الدین دوباره
دَ غزني دَ اخستو نیت وکړ نو هغهٔ پرِ داسې حمله وکړه
چه دَ دهٔ غابښونه يې مات کړل او تر هغې ورپسې تهٔ چه
آخر يې مړ کړ. دا دَ زین‌خان دَ شاباسۍ روستي کار دهٔ. په
دې خبره ملک کښې بالکل امن قایم شهٔ. هرکله چه جلال‌الدین
ووژلې شهٔ نو اکبر زین‌خان په ۱۶۰۱ئ کښې راوغوښت
دوه ځلور کالَ پس اکبر هم مړ شهٔ او جهانګیر په تخت
کښیناست. په دې خبره سره په افغانستان باندې څه اثر
پرې نهٔ وت. په دې زمانه کښې دَ دې ملک دَ قندهار
حاکم سره چه اکبر مقرر کړي وهٔ. دېر راشه درشه وُو. ځکه
مونږ دَ دې حاکم حال بیانوُو.

شاه‌بیک دَ بخارا دَ ارغون وهٔ. دې دَ کابل دَ حاکم
مرزا محمدحکیم وفادار نوکر تېر شوې دهٔ. او دَ مرزا له مرګ
پس اکبر بادشاه ته راغلې وهٔ او دَ یوسفزو او مهمندو
په جنګونو کښې يې ډېره مړانه کړې وه. په هغه قابلتوب
چه دهٔ دَ سنده په فتح کیدو کښې ښکاره کړي وهٔ. اکبر

دَي دَ هغه نازکو معاملو دَ بند وبست دپاره مقرر کړ چه دَ هغو په صفا کولو سره آخر قندهار دَ بادشاه لاس ته راغيَ.

دَ قندهار او دَ قندهار دَ ضلعي حکومت دي حاکم په ډیر انتظام سره وکړ او دَ گهکړانو يُ ښهٔ غوږونه تاو کړل په دي ښه والي سره دَ غزني حکومت هم هغه وخت چه شريف خان واپس راوغوښتيَ شهٔ دهٔ ته ورکړي شهٔ.چه اکبر په سنه۱۶۰۵ کښی مړ شهٔ نو دَ افغانستان دوه لويي ضلعي بس دَ يو سړي په لاس کښی وي چه په قابلتوب او انتظام کښی مشهور وهٔ -

په دي زمانه کښی چه دَ لويي بادشاهيُ دَ خاوند په مرگ به ډیر ډیر فسادونه پيدا کيدل.دَ اکبر دَ مرگ خبر يُ چه واوريد نو دَ ايران دَ بادشاه شاه عباس زړهٔ دي خبري ته خت مت شهٔ چه قندهار دَ مغلو نه تر لاس کړي.لکه چه هغهٔ دَ هرات گورنر حسين خان شاملو ته په دي کښی مناسب حکمونه راوليږل چه دَ هغو په رارسيدو حسين خان قندهار ته روان شهٔ- او قندهار ته چه چاپيره پړاوت نو شاه بيگ داسي مړانه ښکاره کړه چه تر اوسَ يُ خلق خبري کوي- اگر که هغه پوهيدهٔ چه دَ دښمن حمله منع کولَي شم خو دَ لوږي تندي څه علاج نشته -دهٔ سره دَ خوراک سامان ډیر کم وهٔ او که چري جګړه اوږده شوي وَي نو دَ دهٔ دا يقين وهٔ چه خما په کښی خير

نشته. پس دا ئې ضروري وګڼله چه دښمن ته دهوکه ورکړي.

په دي خیال هغه یوه ورځ ماښام په یو لوي میدان کښي چه دَ دښمن دَ قلا دَ لاندې وهٔ زورَوري میلمستیاګاني او جشنونه شروع کړل. په داسي وخت کښي په دي کار دَ حسین خان څه قدر شک پیدا شهٔ چه شاه بیګ سره څو جوړ دَ خوراک ډیر سامان دَي چه په جشنونو ئې اَلوُزَوي. دهٔ شاه بیګ ته سوال جواب وکړ چه دَ صلحي دپاره یو سړي درلیږم که اجازت دي. هغهٔ اِذن ورکړ. دهٔ په دي بهانه یو خپل جاسوس ورولیږهٔ. او شاه بیګ دَ دهٔ دَ راتلو نه ورړنبي دَ ښهر په سرکونو باند دَ غلي بوجئ ځاي په ځاي دغورزَولي. جاسوس واپس چه حسین خان ته لاړ نو ورته ئې وُوې چه آس په سُوري وتړه. په ښهر کښي دَ خوراک ډیر سامان موجود دَي. لږي ورځي پس چه شاه عباس ته معلومه شوَه چه دَ کوم شر فساد ما خیال کړَي وهٔ هغه نهٔ کیږي نو کړه کوُډه ئې پورته کړه.

په سنه ۱۲۰۶ کښي جهانګیر کابل ته راغئ. دَ واپس تلو نه ورړنبي ئې دا ښهر هم شاه بیګ ته حواله کړ اوس شاه بیګ ګوایکي (ګویا کښي) دَ ټول افغانستان حاکم وهٔ. یوه دَ هرات صوبه ایرانیانو سره وَه. دهٔ ته بادشاه حکم ورکړي وهٔ چه دَ دي ملک دَ مال دَ بند وبست کاغذونه جوړ کړه. لیکن افسوس

دَي چه دا کاغذونه ما ته په لاس راغلل.

په سنه ۱۶۲۶ع کښې جهانګیر شاه بیګ ته دَ "خانِ دوران" خطاب ورکړ. شاه بیګ چه دَ ملک او به پرېشانۍ نه وي او دَ همیشه دَورو (ګرځېدو) نه تنګ شهٔ په سنه ۱۶۲۰ع کښې يې استعفا ورکړه. ګټنِ دَ غرونو قامونو سره په جنګېدو باندِ له اندازې نه زیات سترَي شوَي وهٔ. دا قامونه رو رو داسي پړ شول چه دوئ یو ځل په کابل باندِ دَ راختو هم دعاوٗ کړي وهٔ. شاه بیګ لوي شرابي وهٔ او دَ شرابو عادت له دهٔ نه هغه دَ پلار نیکهٔ قابلتوب یوت.

معلومه نه دَه چه له شاه بیګ نه پس څوک کښیناست. تش دومره معلومه دَه چه دوه کالَ پس په سنه ۱۶۲۲ع کښې اشرف خان دَ قندهار حاکم وهٔ. په دي زمانه کښې دَ ملتان مشهور حاکم خان جهان لودهي دَ ملتان په صوبه باندِ حکم کاوهٔ. دي کال کښې شاه عباس خپل پخوانَي نیت بیا راپه زړهٔ کړ او یو فوځ يې راواخست او په قندهاري حمله وکړه. اشرف خان له بادشاه نه مدد وغوښت. خان جهان دَ مدد دپاره تیار وهٔ لیکن جهانګیر حکم وکړ چه خبردار له ځايَ ونهٔ خوځي. دَ بادشاهانو مقابله بادشاهان کوِي. لیکن دَ دي خبري نتیجه بادشاه زر ولیدَه. شاه عباس داسي ګرم له ښهرَ تاؤ شهٔ چه په څلوېښتمه ورځ يې قندهار واخست. دي نه پس دَ جهانګیر په زمانه کښې بیا دَ قندهار دَ اخستو کوشش وُ نهٔ شهٔ.

جهانګیر خپل زوي شاهجهان ته حکم ورکړي وهٔ چه ښوخ واخله هلته لاړ شه خو هغهٔ لا نهٔ رهٔ ځکه چه دي ورځو کښې دَ تخت دَ میراث خبري کیدي-له دي وجهې نه هغه څه چه تول وروته له هندوستان نه باهر نهٔ وتل-نو ښخلس کاله پوري دا ښهر دَ ایرانیانو په قبضه کښې وهٔ-

اوس زهٔ دَ هغه پښتنو دَ قامونو ذکر کوم چه دَ قندهار خواؤشا کښې آباد وُو-په دوئي کښې له ټولو نه لوي ټبر دَ غلزیو وهٔ او دوئي یو ځل بیا خپل ځان ځرګند کړ-له وخت نه هغوئ شریان وُو او دَ دوئ ځني خپلو په افغانستان او هندوستان کښې حکم کاوهٔ-لیکن له ډیري مُدي راسي هغوئ دَ بل دَ لاندِ په طاعت منلو عادت شوي وُو-او ډیر کلونه دَ ډیلي دَ دلبار تابعدار وُو خو اوس له دي تابعدارئ نه يې هم زړهٔ موړ شوي دهٔ او چه دَ شاه عباس غونډِ مشهور او زورور بادشاه په دوئي حمله وکړه نو دوئ دَ هغه هرکلي ته په خوشحالئ ورلاندِ شول-

په قندهار باندِ چه ایرانیانو قبضه وکړه نو دَ ګیرچاپیر پښتنو په خوشحالئ سره ګڼلوئ خپل بادشاه ومنهٔ-دا معلومیږي چه دي بادشاه په اول اول کښې دَ دي تابعدارئ قدر وُ نهٔ کړ-شاه عباس به اکثر دَ لویو لویو خبرو په ټکښ دَ وړو وړو خبرو پرواه نهٔ کوله-ځکه هغهٔ هیڅ خیال وُ نهٔ کړ چه دَ دي قامونو په شور شر څما په بادشاهئ څه اثر

پرویزي او هم له دي وجهي نه هغهٔ یا دَ هغهٔ صوبیدار په پښتنو بانڊِ بي ځایَ ظلمونه وکړل چه دويُ هغه وُ نهٔ زغملیَ شول - او ډیري ګلي ئ وکړي خوځه اثر ئ و نهٔ کړ - آخر هغو دَ یو څو سردارانو جرګه اصفهان ته ولیږلـه چه په ځان بادشاه دَ دوئ له تکلیفونو نه خبر کړي - او دَ دي اوسني حاکم دَ بدلیدو درخواست وکړي - او دا درخواست وکړي چه هم له دويُ نه یو سړيَ دَ دي مطلب دپـاره مقرر شي چه دَ دويُ دَ معاملو په باب نیغ اصفهان سره خبري اتري کوليَ شي - دي درخواست دَ شاه عبـاس ستړګي وغړَولي او په خپلي غلطيَ بانڊِ خبر شهُ - دهٔ دا درخواست في الحال منظور کړ او له هغه وختَ نـه دَ کلاَن تر په عُهده بانڊِ یو پښتون مقرر کیدل راشروع شول - چه دَ هغهُ په ذمه به دَ قندهار دَ پښتنو دَ کورنو دَ معاملو انتظام وهٔ -

اوس واوريَ چه دَ قندهار دَ بایللو نه پس پـه سنهٔ ۱۶۲۵ئ کښی جهانګیر بیا کابل ته راغيَ - دا رانله ئ دَ یادَولو لائق دي - اصل کښی دَي دَ پښتنو دَ قامونـو دَ غوَرِ تاوَولو دپاره راغليَ وهٔ ځکه چه هغويُ له معول نه زیاتي شوکي او ماري داري راخستي وي - مګر دَ جهانګیر دَ وررسیدو نه ورښتي دي قامونو طاعت ومانهُ سره دَ دي بیا هم جهانګیر خپله اراده ماته نهٔ کړه -

او دَ خپل فوځ سره په مخکښ ته او څن دَ جهلم په سیند پوریوته چه په دي کښ دَ کابل یو سړي مهابت خان چه دَ بادشاهۍ ستن وَه. دَ نورجهان دَ دښمنۍ په وجه بادشاه نه ویریده جهانګیر ئې نظر بند کړ.

مهابت خان بادشاه ځکه راغوښتی وهٔ چه کوم کوم تورونه چه په ده لګیدلي وُو دَ هغو جواب وکړي- لیکن دي خان سره دَ نورجهان دَ دښمنۍ ښهٔ فکر وهٔ- ځکه ئې پنځه زرَ معتبر راجپوتان ځان سره راوستي وُو او دا وخت ئې هغوئ لـه بادشاه نه چاپیرَ ودرَولي وُو- دَ هغهٔ دا نیت وهٔ چه بادشاه کابل ته بوزي- لیکن نورجهان خپل سرداران جنګ ته تیار کړل او په مهابت خان ئې حمله وکړه.

زورَور جنګ وشهٔ نورجهان شکست وخوړ- دي لوي همت او بهادرۍ کړي وَه لیکن په کوم هاتۍ چه دا سوره وَه هغه دَ یو راجپوت له لاسَ داسي زخمي شهٔ چه اوتر شهٔ- او دَ سیند نه پوري غاړه وتښتید- ماشوم زوي چه دَ نورجهان په غیږ کښ وهٔ هغه هم زخمي شهٔ- نورجهان چه ولیدل چه په فوځي طاقت کار وُ نهٔ شهٔ نو هغي یو بل چل وکړ جهانګیر ته ورغله-

مهابت خان اوس اباسیند څخ ته راوړاندِ شهٔ- جهانګیر دَ نورجهان په مصلحت دَ مهابت خان خبره خوښه کړه. او په نورجهان دَ باور نهٔ کولو هتینګتیا ئې وکړه- کابل ته

رسیدو نه ورپښې ئې دَ مهابت‌خان په مغزو کښې دا خبره ننه کښېنوله چه بادشاه اصل کښې ستا ډیر احسان منېي چه دَ دغې ښځې له مرسِتې توب او له ټکانو دلبارِیانو نه دِ خلاص کړ۔

په دې مُدّه کښې نورجهان خپل کار سموهٔ۔ کله به ئې بادشاهي فوځ دَ راجپوتو سره جنګوهٔ او کله به ئې پښتانهٔ راپارول۔ له ټولو نه لوی چل هغې دا وکړ چه رو رو ئې خپل ټولې داسې زیات کړ چه مهابت‌خان پرې هېڅ پوه نهٔ شهٔ۔ چه دَ دې تدبیرونه پوره شول نو دې جهانګیر راخلاص کړ ولې هرکله چه دَ مهابت‌خان قوت زیات وهٔ او بل دَ دې زوی هم دَ هغهٔ په قبضه کښې وهٔ نو ځکه نورجهان ورسره روغه وکړه۔

بادشاه کابل کښې ډیر حصار نهٔ شهٔ او مخې کال ته په ۲۸ اکتوبر سنه ۱۶۲۷ء کښې مړ شهٔ۔

شاهجهان ورونړو سره جنګ جګړه وکړه دَ پلار په ځای کښېناست۔ دَ دهٔ له کښېناستو نه تر دوه‌وُ کالو پورې دَ کابل او دَ غزني حال معلوم نهٔ دَی په دې مُدّه کښې دَ عزونو له څه شور شر نه بل څه خبره نه دَه پېښه شوې۔ په سنه ۱۶۳۲ء کښې دَ شاه عباس نه پس شاه صفي دَ ایران بادشاه شهٔ۔ دهٔ به رعیت باندِ ظلم راواخست۔ دهٔ کښې دَ ورښې بادشاه په شان قابلتوب نهٔ وهٔ۔ شاهجهان

ځکه دَ قندهار دَ اخستو دپاره فوځ رالوليږه. دا وخت دَ قندهار حکومت دَ يو قابل سردار عليمردان په لاس کښې وه. دې دَ شاه عباس ډير معتبر جرنيل وه او هميشه دَ بادشاه پوخ رازدار وه. عليمردان خان ډير دولتمند سړي وه او شاه صفي دَ ده دولت ته پسخيده. ده عليمردان دلبار ته راوغوښت ليکن چه دي نه ورښې دغه سي بادشاه ډير اميران راغوښتي او مړه کړي دُو ځکه علي مردان خان دَ بادشاه دلبار ته لانه ړه. او شاهجهان سره ي خبري استري وکړي او قندهار ي مغل بادشاه ته ورکړ. پحيله دَ ډيلي دلبار ته لاړ. هلته دَ ده ډير عزت وشه او بادشاه په هغه فوځ جرنيل کړ چه دَ بدخشان دَ واپس اخستو او دَ بلخ دَ فتح کولو دپاره وه.

ما اول ليکلي دي چه دَ مرزا سليمان او دَ هغه دَ نمسي دَ مخالفت په وجه ازبکيانو چه دَ بلخ مالکان دُو په بدخشان قبضه کړي وه او تر اوسَ پوري دوي سره وه. دَ دوي په مقابله بانډ عليمردان خان لاړ. دي دَ هندوکش په لر بدخشان ته ورسيد. ازبک نن پرون په کوزنو جګړو کښې اخته دُو. ځکه هغوي دَ عليمردان خان مقابله وُ نه کړه او دَ ښهر دروازي ي پوري کړي ښيه په ښيه کښيناستل. عليمردان لا په داسي لوي ځاي بانډ قبضه نه وه کړي چه هغه ي دَ درو سره خپل صدرمقام کړي وي چه يودم دَ ژمي موسم

شروع شهٔ په ناعلاجئ کابل ته راواپس شهٔ او حشهٔ فوځ يې په ښهر کښ پرېښو ځېله ډېلي ته لاړ۔

مځي کال په ۱۲۴۵ھ بادشاه علیمردان‌خان دلبار کښ وساتهٔ او دَ دهٔ په ځاي دَ کوټي دَ راجه مکند سنګه ورور جګت سنګه يې دَ بدخشان دَ اخستو دپاره ولیږهٔ۔ جګت سنګه سره دَ څوارلسو زرو راجپوتو نه علاوه هغه فوځ هم وهٔ چه علیمردان کابل کښ پرېښي وهٔ۔

لیکن په دي ورځو کښ اُزبکیانو کورتي جګونه پرېښي وُو۔ چه جګت سنګه بدخشان ته ننوَت نو مخي نه ورته داسي مضبوط دښمن راغئ چه دَ راجپوتو بهادرو سپاهیانو وایس نهٔ کړي شهٔ ځکه هغهٔ له بادشاه نه دَ کومک درخواست وکړ بادشاه في الحال یو فوځ دَ علیمردان دَ لاندِ ورروان کړ۔ دي فوځ سره دَ بادشاه دَ ټولو نه کشر زوي شاه مراد هم وهٔ۔ فوځ کمته وکړه۔ په بدخشان باندِ قبضه وشوه او بلخ او افغاني ترکستان طاعت ومانهٔ۔ دا دواړه صوبي دَ هندوستان بادشاهئ سره وګنډلي شوي او مرزا مراد دَ دَيُ وایسراي مقرر شهٔ۔

مرزا مراد لا په خپل ځاي مضبوط شوَي نهٔ وهٔ چه هغه خطر راپېدا شهٔ کوم چه دَ همایوُن په بلخ باندِ له قبضي نه منځ شوَي وهٔ۔ اُزبک له سمرقند او بخارا نه دوتل او ماري داړي يې شروع کړي۔ مراد چه عیاش او میدان خشته وهٔ

او دَ علیمردان په ښنبنه يُ عمل نهٔ کاوهٔ بي تپوس يُ بلخ پرېښو او راغيَ. شاجهان في الحال دَ دهٔ په ځاي خپل دریم او له ټولو نه زیات چالاک زوي آورنګ زیب مقرر کړ او بیا ژر ژر هم دَ هغهٔ دَ مدد دپاره کابل ته رارون شهٔ. دَ اورنګ زیب بدخشان ته راورسیدو سره مغلو په ازبکو فتح بیاموندله لیکن دَ ازبکو شمېر زیات وهٔ او پله پسي مدد ورته رارسیدهٔ نو نتیجه يُ دا وخته چه کمتن وي ژر ژر هم په بلخ کښې سر په سورِي کړ.

آخر دا جګړه داسي خلاصه شوه چه دَ بادشاه او دَ ازبکو دَ سردار نذر محمد په مینځ کښې په دي خبره روغه وشوه. چه بدخشان ازبکو ته پرېږدي او له هندوکش نه دي خوا راشي. اګرکه دا ځایونه اورنګ زیب په آسانه ازبکو ته پرېښول لیکن دَ هندوکش په درو چه تیریدهٔ نو دَ دهٔ ډیر نقصان وشهٔ.

په نومبر سنه ۱۶۴۷ع کښې چه دَي په دره تیریدهٔ نو دَ هزاره قوم داړي پر راپاځیدي. هغه دَ دهٔ دَ فوځ تباه کولو دپاره نهٔ وي راغلي بلکه لوټلو شوکولو ته راغلي وي. وادرو ځنګي سختي لاري او بیا دَ یو ناخبرَ دښمن حملو فوځ ته ډیر نقصان ورساوهٔ. اورنګ زیب او یو څو نور سوارهٔ خو له خیرَ کابل ته راورسیدل لیکن دَ باقي سپاهیانو وارهٔ وارهٔ ټولي په داسي حال کابل ته راغلل چه نهٔ ورسره آسونه وُو نهٔ سامان

او نهٔ وسله.

په دي زمانه کښې پواڅې دا غم دَ مغلو په سر نهٔ وهٔ راغلی په سنه ۱۶۴۲ کښې دَ ایران بادشاه شاه صفي مړ شهٔ دَ دهٔ په ځاي دَ دهٔ دَ دولسو کالو دویم زوي شاه عباس ثاني په تخت کښیناست - دا شهزاده اګرکه بیا ورستو شرابي شهٔ خو په ځوانۍ کښې دَ ساهو خوښونو نه خلي نهٔ وهٔ له ډیري مُدي راسي دَ دهٔ په زړهٔ کښې دا ارمان وهٔ چه قندهار له مغلو نه واپس واخلم - دَ دي مطلب دَ پوره کولو دپاره ډیر په احتیاط کار وشهٔ - ټول تیارَي پټ وشهٔ - ټول خزانه نغد ورکړي شول او په دي خیال چه هسي نه قلابندیانو ته کومک راورسي او قلابندي اوږده شي دَ حملي کولو دپاره داسي وقت مقرر شهٔ چه دَ هندوستان او قندهار تر مینځ لار په واورو بنده وي - دَ دي تجویز په ټکي ټکي عمل وشهٔ - شاه عباس ثاني دَ دسمبر سنه ۱۶۴۷ په اولو ورځو کښې قندهار ته مخامخ راغی ودرید - قلابندي لسو ورځو پوري وَه لا قلابندي شروع شوي نهٔ وَه چه شاهجهان په اورنګ زیب ډیر تاکید وکړ چه في الحال له لاهور نه قندهار ته لاړ شه اوس مغلو ته معلومه شوَه چه دَ ایران بادشاه دَ حملي دپاره دا وخت صحیح کړي وهٔ دي کښې څه چل وهٔ - اورنګ زیب ته لار بنده وَه بیا هم لاځوړهٔ ولي فوځ ته ئي دومره خوارِي پیښه شوَه چه تربت شهٔ او چه اورنګ زیب

قندهار ته ورسید نو معلومه شوه چه قندهار دَ ایرانیانو په
قبضه کښې راغلی دی - او دَ هغهٔ دَ ستړي ستومانه فوځ دپاره
بې له دې نه بل علاج نشته چه واپس لاړ شي او بیا بل
وخت ته وګوري -

دا موقعه مخې کال له پېښه شوه. دَ ایران بادشاه په قندهار
کښې لږ غوندې فوځ پرېښو او پخپله ټول فوځ سره ایران ته
لاړ - په مئي سنه ۱۶۴۹ کښې اورنګ زیب ډېر فوځ او دَ جنګ
درونډ سامان راواخست په قندهار راوخوت - هرکله چه پخپله
یو قابل او تکړه جرنیل وهٔ په دې کار کښې ئې خپل ټول قابلیت
ښکاره کړ. دَ هغه وخت سره دَ جنګ ټول چلونه هغهٔ وکړل -
چه قلابندي ئې په ښهٔ شان محکمه کړه نو قلا ته ئې سرنګ
شروع کړ. کله به ئې سرنګ ویستهٔ او کله به ئې په قلابندیانو
حمله کوله - څه مدې پورې دا حال وهٔ - آخر دَ عباس ثاني کومک
قلابندیانو ته راورسید. لیکن دَ اورنګ زیب په تکړه توب کښې څه
فرق رانهٔ غی او دَ فوځ یوه دسته ئې دَ دښمن مقابلې دپاره دَ یو
لایق افسر دَ لاندې ولېږله - ایرانیان واپس شول لیکن هغو په
درو کښې په یو داسې ځای قبضه وکړه چه دَ هغه ځای نه دَ
اورنګ زیب دَ فوځ کابل سره تلهٔ راتلهٔ بند شو - اورنګ زیب کښې
دومره قوت نهٔ وهٔ چه سره دَ دې بندش قلابندي هم وساتي
او دښمن سره هم وجنګېږي - په ناچارئ راواپس شهٔ او په
ستمبر کښې هغهٔ قلابندي پرېښوه کابل ته راغی -

لیکن د قندهار خیال د دهٔ هغهٔ له زړهٔ نه لانهٔ ړهٔ - دري کالَ پس ئې یو بل فوځ راواخست راغئَ چه له ورښي نه زیات سامان ورسره وهٔ لیکن د دي لام نتیجه هم ماتي شوه.

دي نه پس اورنګ زیب دکن ته ولیږلي شهٔ او د دهٔ مشر ورور داراشکوه چه یو بهادر سپاهي وهٔ او تعلیمیافته شهزاده وهٔ. او په سخاوت کښ د خپلي زماني حاتم وهٔ - په خپل خواهش بانډِ په دي کار مقرر شهٔ. هغهٔ یو داسي فوځ په دي لام بانډِ راوست چه د تیر شوو لامونو د فوځ نه زیات په وسله ډک او په سامان پوره وهٔ. هغهٔ د کښتي بتول چلونه وکړل - وائي چه د دهٔ په فوځ کښ یو څو یورپين په توپو چلولو بانډِ مقرر وُو. لیکن سره د دي چه هنرمندئي او بهادرئي د داراشکوه تدبیرونه پوره کړل، سره د دي چه هغهٔ د بهادرئي او سپاهيتوب یو نظیر قایم کړ او سره د دي چه هغهٔ حملي په حملي وکړي او آخر د قلا په سر هم وخوت خو قندهار لاس ته ورنهٔ رغئَ - د قلابندیانو قوت دوئِ سره برابر وهٔ او قسمت ئې پرِ زورور وهٔ - چه د داراشکوه د فوځ تکړهٔ ځوانان مرهٔ شول نو په ناچارئي ئې قلابندي پرینښوه. لیکن تش په دي خبره د دهٔ بدبختي خلاصه نهٔ شوه. بلکه چه دي کابل ته واپس شهٔ نو ایرانیان د دهٔ فوځ پسي ولګیدل او غلزیانو ئې میمنه او میسره راګیره کړه - د داراشکوه د نقصان څه اندازه نهٔ لګي - چه دي زړهٔ ماتئ کابل ته ورسید نو یو لږ شان مات ګډ فوځ ورسرهٔ وهٔ او قندهار همیشه دپاره د مغلو له لاس نه وتئ وهٔ.

شاه عباس ثاني چه د خپلو ګټو په مضبوطولو ئې ملا
تړلې وه د مغلو په شکست نور هم مضبوط شهٔ. هغهٔ د غلزيو
او ابداليو سردارانو ته انعامونه او اکرامونه ورکړل د پښتنو
قامونه ئې په خپله ډډه کړل. په دې چلونو د ګيرچاپير علاقه هم
د ايرانيانو په قبضه کښې پاتې شوه. شاه عباس ثاني چه په
سنه ١٦٦٦ء کښې مړ شهٔ نو شاه سليمان د دهٔ په ځاى باندې
کښيناست. او نوٓس کاله پورې ئې حکم وکړ. دا بادشاه اګرکه
بشخولى او د کمزورۍ طبيعت خاوند وهٔ ليکن د دهٔ په زمانه
کښې پښتنو هيڅ شور شر وُ نهٔ کړ. دهٔ پښتانهٔ خپل رعيت
ګڼړهٔ. د مړيونو په شان سلوک ئې ورسره نهٔ کاوهٔ او د دې دا
اثر وشهٔ چه د قندهار د لختو نه د شاه سليمان تر مرګ
سنه ١٦٩٤ء پورې هيڅ فساد په افغانستان کښې وُ نهٔ شهٔ.

ليکن د سليمان زوى سلطان حسين چه په تخت کښيناست
نو حال بدل شهٔ. دا بادشاه ډير عياش او مطلب آشنا وهٔ. د
دهٔ د بل چا په فايده څه کار نهٔ وهٔ. شاه عباس او له هغهٔ
نه روستو بادشاهانو چه د پښتنو تابع کولو دپاره څه څه چلونه
کړي وُو هغه د دهٔ په زمانه کښې د ملايانو او د خواجه
سراوُ په بې انتظامۍ چه د سلطان حسين په نوم ئې حکم کاوهٔ
برباد شول. په تيره تيره غلزي پښتانهٔ ډير زر وران شول.
او د دوئ زورور وراني بادشاه او د هغهٔ نالائق وزيران داسې
حيران کړل چه تر ډيرې مُدې پورې څو په دې فکر کښې وُو

چه په کوم چل غلزي لاندِ کړو. ډیره مُده پس آخر هغوی هغه کار وکړ چه کمزوري بادشاهان ئې اکثر په وارخطایئ کښې کوي او نتیجه ئې همیش دَ هغو له منشاء نه مخالفه وِي.

دي ورځو کښ دَ جارجیا یو بهادر جرنیل ګورګین خان په ایراني فوځ کښ نوکر وهٔ. اصل نه دَي په دین کښې عیسائي وهٔ. اول اول کښ دهٔ کوشش کړي وهٔ چه خپل ملک آزاد کړي. لیکن سره دَ خپل قابلتوب دَ ایرانیانو بې شمېرَ فوځ ته ټینګ نه وهٔ. دَي دومره قابل وهٔ چه سره دَ دي وراني بیا هم بادشاه تش په دي شرط په خپل خدمت کښې قبول کړ چه مسلمان شي. دا سړي جنګیالَي او سخت طبیعت وهٔ. ځکه دَ بادشاه وزیرانو دَ غلزیو دَ سمولو دپاره دَي خوښ کړ او دهٔ ته ئې یو لوي فوځ ورکړ او دَ قندهار په ګورنرئ ئې راولیږهٔ.

غلزیانو بغاوت کړي نهٔ وهٔ خو طاعت ئې پرېښې وهٔ. هرکله چه ګورګین خان ورغۍ نو هغو مخالفت وُ نهٔ کړ بلکهِ تابعداري ئې وکړه. ګورګین خان قندهار یو کټلَي ملک وګڼړهٔ او قندهاریانو ته ئې دَ مریونو په نظر وکتل. ووړ، زوړ، نر، ښځه، امیر، غریب هیڅوک هم دَ دهٔ دَ ظلم نه بچ نهٔ شهٔ.

دَ پښتنو تر اوسَ پوري هغه زمانه یادهٔ وهٔ چه شاه عباس اعظم ته ئې اپیل کړي وهٔ او دَ ګورنرانو له ظلم نه

خلاص شوي وُو څکه اوس هم هغوئ دَ ګورګين دَ ظلم ګِله
دَ ايران تر بادشاه پورې دَ رسولو بندوبست وکړ او خپله
جرګه ئې اصفهان ته وليږله. ليکن دَ دې زمانې په بادشاه
کښې دَ عباس په شان قابليت نهٔ وهٔ څهٔ مُدې پورې څو
دَ پښتنو جرګې سره هيڅ ملاقات وُ نهٔ شهٔ او ډېره مُده
پس چه بيا بادشاه وغوښتل نو داسې جواب ئې ورکړ چه
که چرې په بل ملک کښې دَ چا بادشاه دَ طرف نه داسې
جواب ورکړې شوې وَې نو رعيت به په سلو کښې ۹۹ څو
ضرور باغي شوې وهٔ.

دې ورځو کښې دَ غلزيانو په سردارانو کښې ميرواعظ ډېر
سَر وېښتلې وهٔ. هغه ډېر پوهنده، نيک عمل، سخي او ډېر
دولتمند او په قندهار کښې ډېر مخ اورِيز سردار وهٔ. دَ دې
اثر وجه ډېره دا وَه چه دَې دَ کلانتر په عهده باندې مقرر
وهٔ. دَ جرګې په لاس چه کومه عرضي بادشاه ته تلې وه په
هغې دَ ميرواعظ هم دستخط وهٔ او پښتنو ته ئې ډېره تسلي
ورکړې وَه. او آخر چه جرګه نامراده واپس راغله نو دوئ ئې
دَ بادشاه په تابعدارۍ باندې قايم ساتل. ګورګين خان چه دا حال
وليد چه ميرواعظ پښتانهٔ له بغاوت نه منع کوي نو په دهٔ
باندې ئې دَ بادشاه دَ دښمنۍ تور پورې کړل او سره دَ معتبرو
ملګرو ئې قيد کړ اصفهان ته ئې وليږهٔ. او چه قندهار ئې
دغه سې صاف کړ نو ډېر فوځ ئې ايران ته واپس وليږهٔ.

دَ میرواعظ غوندِ هُښیار دنیادار چه اصفهان ته ورسید نو
نورزرونو مُلیانو او مطلب آشنا خواجه سراوُ سره يې خواه مخواه
ولیدل- یو طرف ته دَ میرواعظ غوندِ زړهٔور او تکړه سردار او
بل طرف ته هغه بادشاهي وَه چه دَ هغې جرړي خودغرضۍ خوږولي
وي-او ظلم او کمزورۍ دَ خلقو زړونه بد کړي وُو-دَ داسې
نزدیکت چه څه نتیجه خوتکي وِي هغه ښکاره دَه-ګورګین خان
میرواعظ دي دپاره اصفهان ته لیږلیٰ وهٔ چه هلته نظربند شِي
او که حاجت پیښ شهٔ نو مړ دِ کړي شِي-لیکن دا لیږل په خپله
دَ ګورګِین خان دپاره ښهٔ نهٔ شول- میرواعظ دَ راتلو سره دَ
دلبار کمزورتیا صحیح کړه او خپله کینه يې پټه کړه-دلباریانو کښې
يې خپل داسې رسوخ پیدا کړ چه هغوئ دَ ګورګِین دښمنان
او دَ دهٔ دوستان شول-دهٔ په ځان دَ ایران بادشاه دي خبرې
ته تیار کړ چه دَ دي تحقیقات وکړي-کوم تورونه چه په دهٔ
لګیدلِي وُو هغه دروغ وُو-لیکن میرواعظ داسې دم اچولیٰ وهٔ
چه که دا الزامونه ربښتیا هم وَي نو بیا به هم دا نتیجه وَه-

بادشاه په جار دَ دهٔ بیګناهِي ومنله او په دلبار کښې دَ
میرواعظ رسُوخ یودَم قایم شهٔ-

که دَ میرواعظ زړهٔ وَي نو اوس قندهار ته واپس راتلیٰ
شهٔ او دَ ګورګِین خان مقابله يې کولیٰ شوَه-لیکن دَ هغهٔ
لري نظر لګیدهٔ او دَ بادشاه او دَ وزیرانو دَ طبیعتونو اندازه
يې کړي وَه چه په دوئ کښې تشه بي پرواهي نهٔ وَه بلکهِ

دَ اختو ملکونو رعیت ته سیک هم ګوري. په دلبار کښې دَ عزت بیامونډو سره میرواعظ دَ ځیل ملک دَ آزادولو فکر راواخست دَ دي مطلب دَ پوره کولو دپاره په کښې ځینې ډیر صفتونه موجود وُو. دولت هغه سره وهٔ. اثر دَ هغهٔ وهٔ مرتبه او قابلتوب دَ هغهٔ وهٔ. لنډه دا چه تش دَ بادشاه او دَ وزیرانو دَ کمزورۍ په وجه نه بلکه دَ ځیل قابلتوب او برکت په وجه هم دا موقع په لاس ورغلي وَه.

لیکن دَ ځیل کار کولو نه ورښې نور هم هغهٔ ډیر بند وبستونه وکړل. هغهٔ دَ ځپلو دښمنانو کمزورَولو او دَ دوستانو تکړه کولو هم کوشش وکړ. دَ دښمنانو سر ګورګین خان وهٔ او په دوستانو کښې يې له ښولو نه زیات چه کوم خلق په قابو کښې وهٔ هغه پښتانهٔ وُو. دَ دهٔ ډیر قابلتوب دا دواړه کارونه په ښه ځاي وکړل.

په ګورګین خان بانډ دلبار بدګمانَ کول څه لویه خبره نهٔ وَه. میرواعظ دَ ګورګین خان په ښکاره خو سپکه نهٔ ویله. بلکه په ډیر عزت به يې دَ دهٔ نوم اخستهٔ. لیکن ځني ځایونو کښې به يې دا دَ مطلب خبره ضرور له خولي نه وته چه "عجیبه خبره دَه چه یو سړي چه یاغي باتي شوَي وي هغه دَ جارجیا، کرمان او قندهار غوندې ملکونو مالک جوړ شوَي وي" کله کله به يې دا هم ویل چه "ځما شک دَي چه کوم سړي چه ورښې عیسائي باتي شوَي وي هغه څنګه رښتنيَ مسلمان

کیدَي شي"- چه کله به يُ دَ گورگین خان دَ قابلتوب صفت کاوهٔ - نو هغه وخت به يُ هم په کښې رایادَول چه هغهٔ خپل طاقت او قابلتوب دَ بادشاه مخالف استعمال کړي وهٔ - او دا به يُ ورسره ویل چه دَ هغهٔ په قابوُ کښې نن پرون له هغه زماني نه زیاتي وسیلي شته - لنډه دا چه دغسي دَ صفت په پرده کښې به يُ دَ گورگین قدر او عزت کماوهٔ -

دَ دهٔ دي خبرو رو رو دَ بادشاه په زړهٔ کښې پوره تاثیر وکړ او آخر دَ هغهٔ هم خیال پیدا شهٔ چه دَ گورگین حوصله او قوت ډیر زیات شوي دَي او دهٔ میرواعظ تش دي دپاره قندهار نه ویستلي دَي چه څما برخلاف ځا سره راپاڅ کولو دپاره هغهٔ ته ملک ورکار شي -

میرواعظ چه ولیدل چه په بادشاه او دَ هغهٔ په دباریانو څما جادوُ وچلید نو في الحال دَ هغه چلونو پوره کولو ته تیار شهٔ چه کوم يُ دَ پښتنو دَ جوش اوچتولو دپاره په فکر کښې راوستي وُو - اګرکه ورښي هم دَ دهٔ اثر او دبدبه وه لیکن په بغاوت کښې کړمي او مضبوطیا دَ پیدا کولو دپاره دا ضروري وو چه دَ میرواعظ دَ دبدبي نه علاوه بو بل شيَ هم وِي چه هغه پښتانهٔ یاغي کیدو ته تیار کړي - دا شيَ دَ مذهب جوش وهٔ - دَ میرواعظ خیال وهٔ چه که دَ پښتنو په مغزو کښې دا خبره کښینولې شي چه دَ ایران بادشاهي له مذهب نه مخالفه دَه نو دوئي به په ټول څما په

قابو کښې راشي. دي مطلب دپاره اوس دهٔ بند وبست شروع کړ.

دا کار ظاهر کښې اګر که مشکل ښکاریدهٔ. لیکن اصل کښې دومره مشکل نهٔ وهٔ. ایرانیان پلخهٔ شیعه او پښتانهٔ پاخهٔ سُنیان وُو. لکه چه له دي وجهي نه کوم وخت چه ایرانیان قندهار بانډِ قبضي کولو دپاره راغلي وُو نو پښتنو وربانډِ دا شرطونه ایښي وُو چه ځموږ په مذهب کښې به دخل نهٔ کوئ. اګرکه دَ شاه حسین تر زماني پوري ایرانیان په دي شرط ولاړ وُو. لیکن دَ سنیانو همیشه شیعه بادشاهان خوښ نهٔ وُو او دا کرکه چه دَ پښتنو په طبیعت کښې پرته وَه میرواعظ زیاته کړه لکه چه مخکښې به معلومه شي.

هرکله چه دَ دهٔ یقین راغيَ چه دَ بادشاه او دَ دهٔ دَ وزیرانو به زړونو کښې به ګورګین بانډِ هرګماني داسي کښیناسته چه دَ هغي لري کیدل ګران دِي. نو میرواعظ دَ حج کولو اجازت وغوښت. دَ داسي نیک کار دپاره فی‌الحال اجازت ورکړي شهٔ.

کتاب لوستونکو به نتیجه وسیتلي وِي چه میرواعظ حثه دَ مذهبي عقیدي به وجه مکي معظمي ته نهٔ وهٔ تليَ. هغه دي دَپاره تليَ وهٔ چه دَ هغه ځاي دَ فقیهانو خیالات دَ خپلو مذهبي خیالاتو سره موافق کړي. او بیا مدیني منوري ته لاړ او تحقیق يَې وکړ چه دَ دي دوارو ځایونو دَ عالمانو خیالات يَې دِي که نهٔ دِي. چه یقین يَې راغيَ چه دَ دي دوارو پاکو

ځايونو عالمان يو خيال لري نو له هغو نه يې دَ يو څو مسئلو فتويٰ واخسته او اصفهان ته راغئ.

دَ کومو مسئلو فتويٰ دَ اخستو دپاره چه ميرواعظ دومره لري تلئ وُه دَ هغو اندازه دَ دي دوه وُ زورورو مسئلو نه کيږي.

ورَنبئ مسئله دا وَه چه اَيا هغه مسلمانانو ته چه دَ دين کارونو پوره کولو کښ بيوسه او ناچاره وي دَ نورو په زور ځان آزادول روا دي؟

بله مسئله دا وَه چه که دَ يو څو قامونو سرداران دَ يو کافر بادشاه په "لاس نيوه" باندِ ناچار شي. او دَ لاس نيوي شرط هغه بادشاه مات کړي نو دَ قامونو ټول سړي دغه "لاس نيوه" ماتولئ شي؟

دَ دي دوارو خبرو جواب دا وُه "بيشک"

ميرواعظ چه دا فتويٰ واخسته او واپس راغئ نو ټولي معاملي يې هغسي وليدي چه پريښي يې وي- دَ دُه دا شوق وُه چه في الحال قندهار ته لاړ شي او څه انتظام چه پکار دي پخپله يې وکړي ليکن بيا يې فکر وکړ چه ځما په تلو باندِ سبه ضرور شبه وشي- پرېږده چه په ګورګين خان دا هڅکان حد نه ورَسي. لنډه دا چه څه مُده هغه دَ ايران دَ بادشاه په دلبار کښ وُه- اګرکه دَ بادشاه وزيرانو سره يې ډيره راشه درشه وَه ليکن په ملکي معاملو کښ يې خبري نهٔ خوښولي.

اصل کښې خو چه لکه نن پرُون به يُ په ملکي معاملو غور کړي وِي داسي به يُ چرې نهٔ وِي کړي-خو هسي يُ دوئ په ځان نهٔ پوهول. قسمت راوسته يوه ښه موقعه ورته لاس ته ورغله.

لکه چه نن پرون (سنه ۹-۱۹۲۸ ء) دَ روسِي اجنټانو سازشونو يورپ او ايشيا ګډ وډ کړي دَي-دغسي کومي موقعي سته چه ميرواعظ ناست وهٔ هغه دَ يو روسِي سفير په برکت دَ هغهٔ نصيب شوَه.

دي ورځو کښې داسي خبره پيښه شوَه چه دَ کپان يو ارمني عيسائيُ "اسرائيل ادرائيُ" دَ زارِ روس پيټر اعظم خدمتونه ډېر کړي وُو نو دَ هغي په عوض کښې يُ دَ اصفهان سفارت واخست-دي سفير ته او دَ دهٔ ملګرو ته دَ بادشاه له طرف نه ډېر حقونه ورکړي شوي وُو. خاص دَ څه وړو رادړو محصول خو ورته بالکل معاف وهٔ-حتکه دَ روانيدو نه وړاندي دومره ملګري ورسره پيدا شول چه دَ هغو شمير تر څو سوَو پوري ورسيد.

دَ دي بي‌قاعدي سفيرِيُ خبر دَ ميرواعظ دَ راتلو سنه څو ورځي پس اصفهان ته راورسيد-خبر وګرزيد چه اسرائيل ادرائيُ ځان دَ پخوانو آرمينيا بادشاهانو دَ نسل نه شميري او دَ هغهٔ سره چه دا لښکر دَي ضرور دَ لوُټ په نيت راغليَ دَي.

په داسې نازک وخت کښې دَ بادشاه بې زړه او نامردو وزیرانو میرواعظ ته مخ واړوه چه څه کار بکار دَي؟ میرواعظ خو تش اشارت غوښته وُ ئ وِ "دې کښې هیڅ شک نشته چه دا ډیر نازک وخت دَي که زار به روغه صلاح سفارت رالېږلې نو ارمنَي به ئ ته رالېږه - دَ بو داسې ارمني له رالېږلو نه چه دَ هغهٔ هم مذهب او دَ آرمینیا له پخواني بادشاهي تېر نه دَي - بې له دې نه بل هیڅ مطلب نشته چه په دې بادشاهۍ کښې دَ بغاوت اور بوري کړي - لیکن مونږ ته بکار دې چه جارجیا په خپل قابو کښې کړو - په داسې حال کښې که روس آرمینیا ته مدد هم ورکړي نو هغه هیڅ نهٔ شي کولیَ - دَ دې هم ډیري ورځي نهٔ دې شوي چه جارجیا دَ ګورګین خان دَ لاندې سر اوچت کړي وهٔ - دا هم مونږ ته معلومه دَه چه دَ ګورګین خان دَ ترهٔ زوئ دَ زار روس په دلبار کښې یوه ستن دَه - نو مونږ څنګه په دې خبره یقین وکړو چه څه وخت دا سفیر سره دَ خپل فوځ ایران ته راننوزي نو ګورګین خان چه په یوه زمانه کښې عیسائي وهٔ او اوس هم دَ جارجیا پخواني شاهي خاندان دَ نسل په وجه پټ پټ عیسائي دَي دَ دهٔ مدد به وُ نهٔ کړي - او قندهار به څمونږ مخالف وُ نهٔ پارَوي".

دا خبري او نور داسې دلیلونه نظیرونه چه دَ خلقو په خبرو مضبوط شو په بادشاه او دلباریانو باندې بې تاثیره پاتې نهٔ شوي - خیر - بادشاه اسرائیل ادرائي او دَ دهٔ ملګرو ته تر اصفهانَ

پورې دَ راتلو اجازت ورکړ- لیکن دَ ګورګین خان په باب چه څه شکونه وُو هغه دَ دهٔ په زړهٔ کښې ناست وُو- دَی خو بادشاه معزول نهٔ کړ ځکه چه ویریدهٔ چه هسې نه ګورګین ځما حکم وُ نهٔ مني- لیکن هغهٔ داسې حکمونه جاري کړل چه دَ هغهٔ دَ مقابل مصلحتي تجویزونو سره موافق وُو- هغهٔ میرواعظ دَ کلانتر په عهده بیا په ځای کړ چه في الحال څهٔ او دَ ګورګین کارونه نظر لاندې ساته- او که موقعه پېښه شوه نو دَ هغهٔ ځای هم واخله

دې کښې هیڅ شک نشته چه ګورګین خان دَ بادشاه دَ مخالفت څه نیت نهٔ وهٔ کړی او دَ قندهار په حکومت کښې چه هغهٔ هرڅه کړي وُو دَ بادشاه په حکم ئې کړي وُو- هغهٔ سختي ځکه راحستي وهٔ چه په ایراني دربار کښې دغسې کار خوښیدې شهٔ پس هغهٔ چه دا ولیدل چه ما کوم سرې دې دپاره قید کړي اصفهان ته مې لیږلي وهٔ چه دَی سپک او خوار شي دَ هغهٔ دومره قدر وشهٔ- نو خفګان ئې اندازې نه زیات شهٔ- لیکن اوس هغهٔ څه کولې شول- دَ هغهٔ نوخ ډېر کم شوي وهٔ او دا ورته مناسب ښکاره نهٔ شوه چه تش دَ وهلو ټکولو دپاره بغاوت وکړي ځکه ئې به ظاهره دَ میرواعظ دارمدار وکړ او په خپله عهده ئې کېښوهٔ-

لیکن په دې خبره چه کوم درد هغهٔ ته رسیدلې وهٔ په هغې پټ په زړهٔ کښې لکه دَ مار تاویدهٔ- آخر دَ دهٔ خفګان دهٔ نه عقل بوت او پوخ نیت ئې وکړ چه میرواعظ ته ونښیم چه زهٔ ستا

افسر یم او زهٔ تا ته ډیر سخت تکلیف دررسولی شم.

دَ میرواعظ پوه لوُر وَه چه دَ هغې ښایست په ټول جهان کښ مشهور وهٔ. چه دَ اصفهان نه راغې نو ګورګین میرواعظ ته خبر ولیږهٔ چه دا جِنَۍ ما کره راولیږه. دَ دې خبرو نه دا ښه معلومیږه چه هغهٔ دا جِنۍ بیګم کوله نه بلکه دَ پوي خدمتګاري یا دَ وینځې په شان دَ ساتلو نیت ئې ورته کړې وهٔ. میرواعظ ته ډیره مشکله پیښه شوَه هغه پوهیدهٔ چه ګورګین به ما ته په دې خبره کښ مهلت رانهٔ کړِي څکه په غصه کیدل عبث دِي ولې بیا ئې هم یو چَل وکړ دَ پوځ قامونو سرداران ئې په دې خبره خبر کړل او له هغو نه ئې مدد او مصلحت وغوښت. هغوئ دَ دهٔ په خیمه کښ راټول شول او دَ هغو له خبرو نه معلومه شوَه چه په دې خبره به هغو هغه اثر وشهٔ کوم چه به دهٔ شوَي وهٔ. یعني ګورګین ته خونړَبوُتر شول. میرواعظ چه دا حال ولیدهٔ نو هغو ته ئې دُوِ چه ټول کار ما ته حواله کړَئ او ګورَئ چه هرکله زهٔ اشارت وکړم نو تاسو ټول جنګ او مرګ ته تیار شئ.

دَ میرواعظ چه دَ خپلو وطنیانو په مدد باندِ یقین راغې نو هغهٔ په ظاهره دَ ګورګین خبره منظوره کړه او دَ خپل کور پوي بلې ښایسته جِنۍ ته ئې سر ستره وکړل وَر وُ ئې لیږله دې جِنَۍ هم وُ ویل چه زهٔ دَ میرواعظ لوُر یمه. په دې خبره ګورګین نرم شهٔ او هغهٔ میرواعظ خپل دَ چوِني یار کړ.

په دې کښ میرواعظ خپل کار کاوهٔ. په بغاوت پورته کولو

کښې یو حرڅ پروت وه. چه ګورګین څه وخت ایراني فوځ لري کاوه نو دَ جارجیا سپاهیان ئې ساتلي ؤ او دَ هغهٔ دَ محل او دَ هغه څوکۍ به هغو کوله دا خلق لري کول ضروري ؤ دي دپاره میرواعظ یو عجیبه چل وکړ.

دَ پښین په کنده کښې چه له ټولو نه زورور قام تارین آباد وه لو اوس هم شته دَي او هرکله چه دا قام له قندهار نه بنایته بنهٔ لري وه څکه میرواعظ دَ دي سرداران ولمسول چه دَ قندهار ګورنر ته مالیه نهٔ ورکوئ. ګورګین خان یو داسي سړي وه چه یو منټ دپاره ئې هم په خپل رعیت کښې دَ باغي توب خبره نهٔ شوه اوریدَی. لکه دي سردارانو مالیي نه انکار وکړ نو ده دَ هغو غوږ تاوولو دپاره پوځ نیت وکړ او چه نور فوځ هغهٔ سره وه نه نو څکه ئې دَ جارجیا فوځ هلته ولیږه.

میرواعظ په دي مُده کښې دَ غلزیو هغه سردارانو سره ولیدل چه دَ هغو دَي سردار وه او انتظام ئې وکړ چه هغوئ قندهار نه یو دوه میلَ لري راشي ودرېږي او اشارت ته ګوري هرکله چه ده ولیدل چه جارجیا فوځ دي ځاي نه ډیر لري لاړ نو في الحال ګورګین خان ته ورغئ او دَ تارینانو په باغي توب ئې خفګان او دَ جارجین دَ فوځ په لیږلو ئې خوشحالي ظاهره کړه او چه په دي خبرو ئې دَ ګورګین زړهٔ ته ځان نژدي کړ نو ورته ئې وُوِ چه ما ستا دپاره خپل کور کښې میلمستیا کړي دَه که ته مهرباني وکړي او ځما دا اوبهٔ چلم منظور کړي نو ئـه به وِي او بل زړهٔ دَ

خپل قام یو دوه سرداران چه ورسَبي ي جري نوکري ته دَه کري ستا به خدمت کښ دَ پیش کولو شوق لرم.

دي میلمستیا دپاره يُ داسي ورخ مقرر کري وَه چه دا يُ بنهُ یقین خاص شوَي وَه چه اوس به جارجین نوخ له ښهر نه ډیر لري تلَي وِي او دَ ښهر به لارو باندِ به دَ ښنتو خوکَيُ ناستي وِي. دَ قندهار ګورنر دَ میرواعظ په نیکَيُ باندِ شک رک نهُ وَه. هغه في الحال دَ یو څو دوستانو او لږو غوندِ ملکرو سره دَ میرواعظ خاي ته لار. دا خاي له ښهر نه لږ باهر وَه. دَ دهُ پوره عزت وشهٔ او په میلمستیا کښ ډیر زور ور اسباب تکیدلَي وَه. په څان میرواعظ خو دَ ګورګین او دَ خاصو دوستانو په خاطر مدار کښ تکیا وَه او دَ دهُ ملګرو دَ ګورګین دَ ملګرو مدار کاوهُ. هر یو ډیر ډیر شراب په میلمنو وڅښول. په ډیرو شرابو میلمانهُ داسي سرګومه پریوتل چه له دنیا نه خبر نهُ وُو. دَ میرواعظ سپه اشارت هر یو اودهُ دَ ستر کو رپ کښ هم هغلته چه کوم څاي اودهُ وَه دَ توري نه تیر شهُ (سنه ۱۷۰۹)

یو هم تر یج نهُ شهُ هم به دي قتل پوري دَ قندهار قسمت نبتَي وَهُ. لیکن لا یو څو جارجین دَ ښهر په برجونو باندِ دَ څوکَيُ به طور مقرر وُو. بي دَ دوئ له لري کولو نه دَ ښهر لاس ته راتلهُ ګران وُو. لیکن میرواعظ تول تدبیرونه اول جور کري وُو. چه دَ تولو میلمنو سرونه پریکړي شول نو هغه دَ ګورګین کیري او وَسله کُوزه کره پځپله يُ واغوسته او دَ نورو

سردارانو جامي ئې خپلو سردارانو ته واغوستولي - او پښتنو
ته ئې هغه جامي واغوستولي کومي چه د کورګين د ملکرو
وي - او بیا ماښام په خره کښې د کورګين په بدل دال باندې
ښهر ته راروان شهٔ - د جارچيانو د کارد هم په دوئ باندې
څه شک رانهٔغئ - ليکن ښهر ته ننوتو سره في الحال ئې د
دروازو په څوکو باندې راباندې کړل او ټکري ټکري ئې کړي
او هغه پښتنو ته چه په خپله جامه کښې باهر ولاړ وُو د دښنه
راتلو اجازت ورکړي شهٔ - په کير شوي فوځ کښې چه کوم
سړي ېچ شوي وُو هغه ئې په آسانه ونيول - ميرواعظ هم
هغه وخت حکم جاري کړ د ښهر خلقو ته ئې واوروهٔ چه
ستاسو ځانونه او مالونه به په دي شرط سلامت پاتي شي
چه د ښهر د قلا دروازي بندي کړئ او ايرانيان دننه
پريږنهٔ بردئ - چه خلقو دا شرط منظور کړ نو هغهٔ هم د
کورکين باقي ملګري في الحال پرښبول -

ورپسې چرته ما ليکلي دي چه ميرواعظ اصفهان
ته ورسيد او د لنډ نيتو او بډي خورو دلباريانو
حال ئې وليد نو د خپل ملک د ازادولو طمع ئې پيدا
شوه - او دغلته ما د پښتنو هغه عامه لار او طريقه
هم ښودلي ده چه په کومي باندې ميرواعظ د خپلو
مرادونو تر سره کولو کښې ښاد شهٔ -

قندهارچه ډير کال راسي به کله د مغلو او کله د

ایرانیانو په قبضه کښ وهٔ اوس هغه یو توږي او پښتون ځاي شهٔ -

# اوَم باب (۷)

## دَ غلزو بادشاهي

دَ دي مراد تر سرَ کیدو په دویمه ورځ میرواعظ دَ قندهار خلق راغونډ کړل او یو تقریر ئې وکړ - هغهٔ وُوِ چه زهٔ په ځیل ایمان وایم چه ځما مطلب ستاسو آزادول وُو - او آزادي یو داسي بي بها شئ دَي چه دي دپاره دا سازشونه او جنګونه روا وُو - ګورګین خان دَ ایران توُرزن او بیمشل سپاهي دَ منځ وُوَت - اوس قندهار ته چه دَ دي طاقتور مغل ئي همیشه په بهادرئ سره مقابله کړي ده دَ هغو نوځونو درستو کول څه ګران نهٔ دِي چه دَ اصفهان دَ هجراکانو په کمان کښ دِي - آخر هغهٔ خپل تقریر په داسي الفاظو باندِ خلاص کړ چه دَ وطن دَ یو ځواخوږي دَ خولي سره مناسب او دَ آزادو ځوانمردانو دَ اوریدو لایق وُو - هغهٔ دا وُوِ چه کـه چیري په تاسو کښي داسي څوک وِي چه هغه دَ دي آزادئ په مزو باندِ چه تاسو ته له آسمان نه راغلي دَه زړهٔ ورتیا نهٔ شي کولئ یعني په دي آزادئ باندِ خوشحال نهٔ وِي نو هغه دِ په

ډکه خوله ډُوډۍ هیڅوک به ورباندِ څه غرض وُ نهٔ کړي..هغه بیشکه دَ دي خوشحال ریاست له پُولي نه باهرچرته دَ نوِي ظالم بادشاه په تکل تلیَ شِي" ټولي جمِي ورسره خواخوږي وکړه - هر یو دَ دي خپلي نوي آزادۍ حفاظت ته تړَي ناست وهٔ - میرواعظ بیا دَ قام مشران راجمعَ کړل او هغو ته يُ ټوله تیره شوي قصه وکړه - ټولو په یوه خوله او یو زړهٔ انتظام دهٔ ته وسپارهٔ او دَ دهٔ په هر یو داسي کار کښ مدد کولو ته تیار شول چه دَي يُ دَ عامي آزادۍ او دَ ملک دَ حفاظت دپاره کوِي. چه دهٔ ته پُوره اختیار په لاس ورغیَ نو دهٔ خپل کار ډیر په هوښیارتیا او تندۍ سره شروع کړ دهٔ ټولي وسلي چه څومره ورسره وي ډُوبیشلي او کارګران يُ په نورو وسلو جوړولو باندِ لګیا کړل. بیا يُ په تلوار دارُو سیکه جوړول شروع کړل او دَ قلاګانو دیوالونه يُ مرمت کړل - توپخانه يُ سمه په قاعده کړه او ورسره ورسره يُ دَ غرونو دَ قامونو سردارانو ته سړي ولیږل چه میرواعظ ته خدای فتح ورکړه تاسو زر دهٔ سره ملګرِي شَئ -

لیکن دَ دهٔ دَ جنګي قابلیت امتحان بیوختَ په سر راغیَ - دَ ګورګین خان دَ قتل په څلورمه ورځ سحر سنتریانو دَ دیوالونو دَ سر نه یوه لویه رساله لري ولیدهٔ چه دي خوا راتله - دا ګرجیان وُو چه دَ تارین قام له مقدمي نه والیس راتلل - دوی تش په شمیر شپږ سوه وُو لیکن بندهٔ په قوَیت یوه څوانان وُو چه ډیر جنګونه يُ لیدلي وُو - او ډیرو جنګونو تړِ نه اوسپنه جوړه کړي وَه - دوي دَ قندهار

د معاملي نه خبر نهٔ وهٔ- میر واعظ ورته همره عزر نهٔ کاوهٔ چه دوئ د توپک د گذار په اندازه نژدي راغلل- بیا ئي پر باند خپلي گولئ ورښکي کړي او په څان د پنځوسو زرو سورو سره د هغو د تیښتي مخې وهلو دپاره روان شهٔ- یا خو دې پخپله د جنگ داسي مړنئ نهٔ وهٔ لکه چه د بادشاهۍ په کارونو کښ وهٔ یا ئي ځوانان په قوت پوه نهٔ وُو ویلي چه دي شپږ و سوؤ سورو په پنځوسو زرو سورو باند حمله وکړه او لار ئي په کښ وُویسته د کرګښک هغه خوا دري ته ورسیدل- میر واعظ څو ورځي هغو پسي لاړ او ډیر نقصان ئي ورته وُرساوهٔ- آخر د درو حفاظت ئي وکړ او واپس راغئ-

زهٔ اوس دې دلته پرېږدم او دا خبره لیکم چه د شاه حسین په دلبار باند د دهٔ د دي کارځه تاثیر وشهٔ، هغه واپس شوؤ کرجیانو د قندهار خبر ایران ته ورساوهٔ- د اصفهان په دلبار کښ چه کوم تاثیر وشهٔ د هغې اندازه دي نه لگیدئ شي چه دي خبري ته هغو هډو پام وُ نهٔ کړ چه پښتانهٔ د آزادئ لیواله وُو- هغو وُو چه تاریخي واقعي لکه چه بیا بیا پیښیږي او لکه چه قندهار وړښي له ایران نه یاغي شوي وهٔ او مغل ئي رابللي وُو دغسي بیا که په هغهٔ حمله وشي نو هسي به وشي نو هغو به څاي د دي چه د بغاوت دفع کولو دپاره یو فوځ ئي رالیږلئ دئ یو جاني خان نوم سفیر ئي رالیږهٔ چه د میر واعظ په دي خبره باور راولي چه د گورگین خان قتل به ورته ومجبښلي شي که چري هغه د ایرانیانو یو فوځ د قندهار په قلا کښ پرېږدي- او سره د دي ئي د جنگ تیاري هم وکړ- څکه که چري سفیر نامراد واپس شي نو بیا به جنگ شروع شي-